خپلواکو موسسو د ښوونکو د ښوونې او روزنې پروګرام جوړ کړې وي. هغه څه چې په دې کتاب کې وربانذې بحث شوې دی، ځینې یې دنوښت له مخې دښوونکو په ښوونه او روزنه کې نوي میتودونه دي، چې هغه ښایې د افغانستان په ښوونځیو کې دمسئلو په رڼا کې، داړتیاوو په پوره کولو کې مناسب وګڼل شي.

ښوونځي په افغانستان کې لري، پراته دي، او لږ شمېر مسلکي ښوونکي لري، دبنسټیزو اړتیاوو نشتوالی ددې سیمې د ښوونځیو معموله بڼه ګڼل کېږي. چې دغه اړتیاوې، درسي کتابونه، قرطاسیه، فرنیچر، دښوونکو معاشونه او داسې نور دي. په هرصورت، په دې تیارۍ کې یو مثبت عامل، د ټولنې ځانګړې پاملرنه او مینه ده چې دخپلو اولادونو، هلکانو او نجونو دواړو له ښوونې او روزنې سره یې لري.

خپله ماشومان هم مېنه لري چې ښوونځي ته لاړ شي. دوی ښوونه او روزنه له موجوده ستونزو څخه د ولس او هیواد د راوتو او د ودې لپاره له دوامدارو لارو څخه یوه لار بولي.



لومړی عکس: د لومړنیو زده کړو سلاکار د ښوونکو روزونکو ته د لارښوونې په حال کې (پېښور)

۲- بنسټیزې موضوعګانې :

ددې کتاب د نیولیک په طرح کې په بشپړ ډول د ښوونې او روزنې مسئلو او اړتیاوو ته پام اړول شوی و. دا په داسې ځانګړي ډول جوړ شوی دی چې د تدریس / زده کړې د هغې ستونزو لپاره لارښوونه برابره کړي چې په افغانستان کې زده کوونکي او ښوونکي ورسره مخ دي. لوستونکي به ووینې چې غټې هڅې ددې لپاره کارول شوي چې د ښوونې او روزنې له عنعنوي پروګرامونو څخه ډډه وشي.

د افغانستان د ښوونې او روزنې د ماهرینو د مذاکرې په پای کې نوموړې موضوعګانې د ستونزو د دقیقو څېړنو په پای کې ټاکل شوې دي چې په لاندې ډول وړاندې کېږي.

۱- د شخړو پر وخت د ماشوم پېژندنه

۲- د فشار پر وخت د ټولګی نظم او اداره

۳- د موضوع له مخې د تدریس میتودولوژي

٤- د موضوع پر بنسټ درسي مواد

سربېره په پورتنیو موضوعګانو، د ښوونکو روزونکو ته لارښوونه شوې ده، چې تر افغانستان د ننه په تېره بیا د مرکزي لوړو سیمو په یکاولنګ کې به څرنګه دوه میاشتنی ورکشاپ پلان کړای شو. دا ډېره ضروري ګڼل شوې ده، ځکه چې په دې ډول له وخت څخه د تیوری او عملي کارونو لپاره ګټه واخلي. د پلان برخه ددې کتاب په پای کې په تفصیل سره بیان شوې ده.

دویم فصل

دشخړې پر وخت دماشوم پېژندنه

ولې شخړې شته ، اوشخړې څه شي ته ویل کېږي ؟

افغانستان له شخړو سره مخ دی ، اوشخړې به تر ېو وخت پورې په همدې ډول دوام ولري ـ نوموړې شخړې د ماهیت له مخې پېچلې دي او دبهرنیو دلاسوهنې اود هېواد دننه دمبارزې نتیجه ده ـ ښایي په لویه او همدارنګه په کوچنۍ کچه دمشاهدې وړوي ـ په لویه سویه شخړې د افغانانو لپاره یوه په بلې پسې بدمرغي رامنځته کړې ده او دټولنې هراړخ ته یې تاوان اړولې دی ـ

په کوچنۍ سویه شخړې له خوښو اوناخوښ اړیکو او په شخصي دښمنیو پورې اړه لري ـ داټول رواني / ټولنیز اختلال رامنځته کوي ، چې ځوانان او سپین ږیري یې دواړه تر اغېز و لاندې راوستي دي ـ هغه ستونزې او تاوانونه یې چې ځوانانو ته اړولي دي ، تلافي کوونکي نه دي ـ ټول ځوان نسل په هېواد کې دمړینې ،شکنجې ، بې حرمتۍ ، په زور د کورنیو د جلاتوب مزد ځکلې او هغه یې لیدلې دي ـ ټول ځوان نسل یې پر فزیکي او روحي ناروغیو اخته کړې دي ـ دا ډېرې هڅې غواړي چې دوی له دې شوکونو څخه وژغوري ـ

په دا ډول چاپیریال کې ، د ښوونې او روزنې پروګرامونو زیاته پاملرنه باید دې ته راواړول شي چې ښوونکي د زده کوونکو / ماشومانو ستونزې وپېژني او د تدریس له عنعنوي طریقې څخه ډډه وکړي او ښوونکي ته دماشومانو سیکالوژي په باب لارښوونه وکړي ـ په دې ډول روزنیز پروګرام کې په

ټولنیزاړخ باندې هم ټینګار شوې دي. دښوونکو دښوونې او روزنې دعنعنوي پروګرام له مخې ماشوم پر عمومي ډول څېړل کېږي . دغه ډول معلومات دهرماشوم په هکله په هره ټولنه کې رښتنې دي. که چېرې له دې ډول پوهې څخه زیات معلومات راټول شي، په عملي برخه کې به له ښوونکي سره د ماشوم دغیر نورمال سلوک دعلت په پیدا کولو او د تحلیل په باب مرسته ونه کړي، یا به له ماشوم سره مرسته و نه کړي چې پر خپلو ستونزو بریالی شي. د همدې موضوع په رڼا کې نوې طریقه طرح شوې ده ،چې ښوونکي ته توانایي وربښي چې د افغان ماشوم قضیو ته د شخړو له مخې کتنه وکړي، چې د دوو لسیزوجګړو او بې ځایه کېدو نتېجه ده .

هغه موضوع چې « د شخړو په حالت کې ماشوم باید وپېژندل شي ». ښایي دفرعي موضوعګانو ترعنوان لاندې نوره هم تحلیل شي. دا تګلارې له برخوالو سره مرسته کوي چې د شخړو د جزئیاتو په باب په منطقي ډول ښه فکر او ژور غور وکړي ،چې د افغانستان د شرایطو په رڼا کې ددې موضوع پرسابقه ،پوه شي. داعملیه به دښوونکو د روزونکو (Master Trainer) د روزنې مهارتونه سم کړي او له هغو سره به په لاندې ساحوکې مرسته وکړي :

الف : د افغانستان دچاپېریال د شرایطو په رڼاکې پر واقعیتونو پوه شي،

ب : د ښوونکو د روزونکو لپاره به زمینه برابره شي چې باید په خپلو منځوکې پرې بحث وکړي،

ج : نظري پوهه/ معلومات وازمایي، چې عملي ستونزې تصدیق کړي ،او عملي ستونزې دنظري پوهې او معلوماتو اړتیا په ګوته کړي.

د : هغه موضوعګانې / مسئلې به روښانه کړي چې په عادي شرایطو کې مهمې نه بریښېدې،

هـ :شخړې باید دټولنیز- کلتوري چاپېریال او دسیاسي ثبات د نشتوالي له مخې دماشومانو په باب له سره تعریف شي یا د همدې موضوع بر عکس ته پاملرنه وکړي.

و : په زده کړه کې باید دامتزاج (Integration) په اهمیت وپوهېږي،

ز : هغه قابلیتونه او استعدادونه باید وروزل شي، چې له محلي زیرموځخه ګټه اخیستنه وپلټي،

ح : دافغانستان د شرایطو په رڼاکې سیکالوژي له سره تعریف کړي او

ط : له شخړو څخه د متاثرو ماشومانو د زده کړې په اړه باید نوې فرضیې رامنځته کړي. دفرعي موضوعگانو د پېژندلو لړۍ باید دښوونکو د روزونکي / ښوونکو لپاره د وظیفې یوه برخه وګڼل شي.

د شخړې په چاپېریال کې دماشوم د پېژندنې موضوع ښایي په لاندې ډول پر فرعي موضوعګانو ووېشل شي : په هرصورت داباید وروستنۍ فرعي موضوعګانې ونه ګڼل شي، ښایي ځینې نورې موضوعګانې هم وپېژندل شي. د نورو موضوع ګانو په ګوته کول د ښوونکو په مهارت او هغه وخت پورې اړه لري، چې د دوی په واک کې وي.

ددې طریقې / کړنلارې ګټې دادي چې د فرعي موضوع ګانو شمېر باید، د روزنیزپروګرام دوخت د چوکاټ له مخې وټاکل شي. هرڅومره چې د پروګرام موده اوږده وي په هماغه اندازه پر فرعي موضوعګانو د اصلي موضوع دوېشلو لپاره زیاته زمینه برابرېږي.

د فرعي موضوع ګانو مثالونه:

١- دشخړو لرونکي چاپېریال تعریفول.

٢- هغه شرایط چې په افغانستان کې د ستونزو منشاء ګرځي.

٣- دشخړو لرونکي چاپېریال بنسټیز عناصر.

٤- دشخړو لرونکي چاپېریال د غتو قربانیانو پېژندنه.

٥ - هغه عوامل چې په شخړو لرونکي چاپیریال کې پر ماشوم اغېزه کوي.

٦- دمصئونیت هغه ستونزې چې دماشوم افکار په شخړو کې رانغاړي.

٧- دماشوم هغه شخړې چې د اقتصادی مسئلو په پای کې منځته راځي.

٨- هغه روغتیایي موضوعګانې اومسئلې چې ماشوم له شخړو سره مخامخوي.

٩- د ښوونې او روزنې هغه مسئلې چې ماشوم تراغېزو لاندې راولي.

١٠ - هغه ټولنیزې ستونزې چې دماشومانو د شخړو سبب ګرځي.

١١- دماشوم هغه سیکالوژیکي شخړې چې له فزیکي ناتوانۍ څخه سرچینه اخلي.

١٢ - دشخړو لرونکي حالت په اړه، سیکالوژیکي ستونزې.

١٣ - هغه ستونزې چې ماشوم اړکوي چې دښوونځي چاپېریال پرېږدي.

۱٤ - دماشومانو دستونزو په حلولو کې دسپين ږيرو او موسسو (ښوونکي، مدير، کورنی، ساتونکي، مذهبي مشرانو / دښوونې او روزنې سيستم) نقش .

۱۵- د افغاني ماشومانو په برخه کې د مشورې او لارښوونې نقش ■



دويم عکس : ماشومان په يکاولنگ کې له شخړو او فشار سره مخامخ دي■

دځينو پورتنيو موضوعگانو د روښانتيا لپاره مثالونه:

دلته هڅه شوې ده، چې فرعې موضوعگانې په ژوره توگه وگورو ، داکار به ښوونکي ته توان وروبښي پرهغو مسئلو په ژوره توگه پوه شي چې له شخړو څخه دډک چاپېريال سره تړاو ولري■ نو له

همدې امله یوه فرعي موضوع دمثال په ډول نوره هم زیاته تحلیل شوې ده .

۱ - دماشوم په برخه کې دشخړو لرونکي چاپېریال تعریف (۱ ، فرعي موضوع)

- دکورنۍ اوماشوم جلاتوب ، اودجلاتوب علتونه، داوطلبانه / ناداوطلبانه ناداوطلبانه جلاتوب لکه دماشومانو په یرغمل نیول، دلاسه ورکول، یتیمېدل ،په نا خبره توګه د کورونو پرېښودل، له منځه وړل اوداسې نورو پورې اړه لري.

- داوطلبانه جلاتوب دکور اوځای پر پرېښودلو، په امانت سپارلو، صرفنظر کولو، خپلواکۍ اوداسې نورو پورې اړه پیداکوي.

ځینې هغه پوښتنې، چې ښایي د پورتنیو موضوعګانو په باب په ورکشاپ کې راپورته شي په لاندې ډول وړاندې کېږي.

- آیا بې سرپرسته ماشوم شته؟

- ولې ماشوم له خپلې کورنۍ څخه جلا شوې دی؟

- کوم ماشوم له خپلې کورنۍ څخه دجلاکېدو ترخطر لاندې دی؟

- کومه کړنلاره به دجلاتوب پر وړاندې له هغه سره مرسته وکړي؟

- کومه کړنلاره به د بې سرپرسته ماشوم داړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي؟

- کومه کړنلاره به دخدمت د سرته رسولو اغېزمنتوب ، باوري کړي؟

- په ښوونځی کې داوږدې اولنډې مودې له کومو کړنلارو څخه کاروا خیستل شي چې ساتنه باوري اوشخړې حل کړي.

۲ - هغه عوامل چې ماشوم له شخړه سره په مخامخ چاپېریال کې تراغېزو لاندې راولي (۵ فرعي موضوع) .

د بد مرغۍ ځینې نښې په لاندې ډول په ګوته شوې دي:

- د ګناد په اړه د بې شرمۍ احساس ، بدبیني، دتمرکز توانایي له لاسه ورکول، په ستونزو کې نغښتل، تشویش، خفګان، او له ناځاپي یرغل ، له جلاتوب څخه ویره اوداسې نور .

- ځینې انفرادي سلوکي خواص لکه له اندازې څخه زیات فعالیت، د زړه ضربان، پرنورو باندې له اندازې څخه زیاته تکیه، په آسانۍ ژړل، د ویده کېدو ستونزې، په ځواب ورکولو کې ناوړه سلوک غوره کول، په ماشومانو کې د ګوتې رودل اوداسې نور، په دې ټولنو کې لیدل کېږي.

- ټولنیز متقابل عمل یې په ټولنیزه انزوا، د تېري سلوک، جګړه غوښتنه اوداسې نورو پورې اړه لري.

- فزیولوژیکي تغییرات یې په سردردۍ، وزن له لاسه ورکول، دانرژۍ له لاسه ورکول، اشتهانه درلودل اوداسې نورو پورې اړه پیدا کوي.

۳- دماشوم روغتیایي مسئلې (۸، فرعي موضوع)

یو سلسله پوښتنې، چې په دې اړه راپورته کېږي، په لاندې ډول دي:

دماشوم پر زیاتره روغتیایي ستونزو او د زده کړې پر ستونزو، د روغتیا او لانجو تر منځه پر اړیکو، دماشوم په باب دمیندو دپوهې زیاتوالی، دماشوم د خوارځواکۍ اندازه دټیپي کیدو پر خطر، ناروغۍ، ناتوانۍ اودروغتیایي شرایطو پر اهمیت پوهېدنه او داسې نورو خورا زیاته اغېزه لري.

٤- دماشوم دښوونې او روزنې مسئلې.

هغه اساسي پوښتنې چې دښوونې او روزنې په هکله راپورته کېږي دادي:

* کوم ماشوم له ښوونې او روزنې څخه برخمن نه دی او ولې؟

* دکوم ماشوم ښوونه او روزنه د پرېښودو تر ویرې لاندې ده؟؟

* کومه تګلاره د ښوونې او روزنې د پرېښودو مخه نیسي؟

* ماشوم ته باید له څنه پرته څه شي چمتو شي؟

* له کومې ابتکاري ستراتېژۍ څخه کار واخیستل شي، چې پر نومړو ستونزو بریالي شو؟

* له کومې لنډې مودې تګلارې څخه ګټه واخیستل شي چې دښوونې او روزنې پروګرامونه پر فعالیت پیل وکړي؟

پاسنۍ څلور ساحې د دې مسئلو د تفصیل مثالونه دي، چې ماشومان ورسره د فشار او ستونزو پر وخت مخامخ کېږي. د دې واقعیتونو د بنسټ له مخې د ښوونکو روزونکو یا ښوونکو ته داسې لارښوونه وشي چې په همدې ساحه کې چټکه کاري څېړنه وکړي، خپل معلومات او مهارتونه زیات کړي، چې خپل استعداد ته وده ورکړي او پر ځان باور زیات کړي. چټکه کاري څېړنه د معلوماتو د راټولولو یوې ساده فورمې ته اړه لري. د دې فورمې جوړول په زده کړه کې یو نوی بعد ګڼل کېږي. چټکه کاري څېړنه د ښوونکو روزونکي ته وخت ورکوي چې د څېړنې پر اهمیت پوه شي. دوی د اغېزمن تدریس زده کړې کې د دلومړي ځل لپاره د خپل تدریس په دوران کې کار واخیست.

د چټکې کاري څېړنې یو څو مثالونه :

۱- د څو ټاکلو کورنیو د اخلال د علتونو څېړنه.

۲- د هغه میتود څېړنه چې په کلي کې د بېلا بېلو موسسو له خوا عملاً کار ول کېږي.

۳- تر فشار لاندې د یو څو ځوانو په ګډون د ځانګړې حالت څېړنه.

٤- د لومړیتوب حق له مخې د نومړو شخړو حل.

د لومړیتوب حق له مخې مداخله او کارکول او د لومړیتوب حق له مخې د ستونزو حل باید د تخنیکي متخصصینو، د مسلکي محلي پوهانو، محلي واکمنو او کورنیو په واسطه برابر شي. ځینې ستونزې د حل لپاره ګډې هلې ځلې غواړي.

په دې هکله دریمه مرحله دا ده ،چې باید د هرې فرعي موضوع لپاره هدف وټاکل شي. د هرې فرعي موضوع لپاره د هدفونو ټاکل به د ښوونکو روزونکي ته وخت ورکړي پر دې پوه شي چې د هرې فرعي موضوع په باب په څه شي پسې وګرځي ،چې له تکرار او تشویش څخه وژغورل شي. دا بله ستراتېژي ده چې د ښوونکو د روزونکي فکر روښانه کوي، نو د دې نوې کړنلارې په واسطه د شخړو پر وخت ماشوم پېژنو. که چېرې پاسنۍ کړنلارې په پام کې ونه نیول شي، نو د ښوونکو روزونکي به د استعدادونو په وده کې عنعنوي لاره تعقیب کړي او پر سیکالوژیکي اړخ به ټینګار وکړي. په دې صورت کې به ونه شي

کولای چې په واقعي ساحه کې له پوهې او توانايي څخه کار واخلي. د فرعي موضوع ګانو ودې به د تدريس د راټولونکي پلان او موادو جوړولو لپاره لاره اواره کړي. دا به هغوی پر دې قادر کړي چې ټول په يوځای دستونزو په ماهيت، او له سيکالوژۍ سره د هغې په اړيکو پوه شي. دهغې د هدفونو مثالونه بايد وويل شي چې دفرعي موضوع په باب په دې ورکشاپ کې راټول شوي دي. انتخابي فرعي موضوع، دهدفونو دودې لپاره، دچاپېريال د ښځو تعريفول دي (پاسنی ۱ , فرعي موضوع). هدف دفرعي موضوع په ګوته کولو لپاره دلايل برابروي. دا به څرګنده کړي چې فرعي موضوع داصلي موضوع له پوهېدنې سره څومره مرسته کوي. دهغو عناصرو څرګندول چې ښځې را منځته کوي له ښوونکي سره مرسته کوي، چې اړونده ستراتېژي وټاکي، چې پر دې ښځوو بريالي شو، او د مفاهمې کلتور اوسوله رامنځته شي.

دتجزيې عمليه: اتوم / عنصر / مفکوره، بايد پر کوچنيو موضوع ګانو ووېشي چې موضوع روښانه شي. پر همدې تېنګار کول ښځې ګټل کېږي. نوله همدې امله ددې فرعي موضوعګانو وړاندې شوي هدفونه په لاندې ډول دي:

۱- ددې لپاره چې د ماشوم په باب دښځو ماهيت وپېژنو.

۲- د دې لپاره چې دچاپېريال ټولنيزاوکلتوري اړخونه وپېژنو.

۳- ددې لپاره چې داڅرګنده کړو، چې له ښځوڅخه مخکې څه ډول سوله موجوده وه.

٤- ددې لپاره چې دافغان دمسايلو په رڼاکې ښځې تعريف کړو.

ددې عمليې څلورمه مرحله دهرې فرعي موضوع د فعاليتونو له ودې سره اړيکي لري.

داهدفونه بايد په هغو فعاليتونو پورې تړلي وي چې دهرې فرعي موضوع په باب منځته راغلي دي. داسې هيله کېږي چې نوموړي هدفونه به له ښوونکي سره مرسته وکړي چې هغه مسئلې درک کړي چې له ښځوسره اړيکي لري او دماشوم پر سلوکي اړخ اغېزه کوي. دا ډول کړنلاره به ښوونکي ته ددې توان ورکړيٰ دښځو اوفشار څخه د راپورته شويو ستونزو لپاره دحل لاره ولټوي. دا ډول فعاليتونه بايد په نمونوي درسي پلان، ددرسي پلان په ميتودونو، د زېرمو د پېژندلو پر ميتودونو، د ارزونې اوآزموېنې او

سریزه

مخکې تر دې چې علې ته درس ورکړو، علې باید وپیژنو. د ماشوم چاپیریال د ماشوم په پېژندلو کې مهم نقش لوبوي. د افغانستان په هکله دغه دواړه اړخونه په ښوونه او روزنه کې د دوولسیزو په شخړو کې له یاده وتلي دي. په دې سربېره هغه ستونزې چې د ټولګي په فعالیت پورې تړلې دي لکه د روزنې او مسلکي لارښوونې نشتوالی، دغه ستونزې نورې هم پیچلې کړې دي. په پای کې کوچنی تدریس (Micro teaching) اوله پیداګوژیکي ستراتیژیو څخه ګڼل کېږي، چې ماشوم پړاو په پړاو په مهارتونو کې تجربه لاس ته راوړي، ښوونکی ته نه دي وړاندې شوي او همدارنګه واکمنو ښوونې او روزنې ته په وروستیو دوولسیزو کې پوره پاملرنه نه ده کړې.

د دې ډول سناریو لپاره زیات وخت ته اړتیا ده چې د ښوونې او روزنې د سیستم اړتیاوې پوره شي. تر څو چې درسي مواد، درسي کتابونه، فرنیچر، ودانۍ، ښوونکي او داسې نورې اړتیاوې برابرېږي، ښوونکي ته باید لارښوونه وشي چې مهارتونو ته وده ورکړي. دوی باید هغه مهم عوامل چې د تدریس زده کړې لپاره ورته اړتیا ده، برابر کړي. دغه کتاب چې نوم يې « د قضیې په رڼا کې د ښوونکو ښوونه او روزنه » ده، هڅه کوي، هغه تش ځایونه ډک کړي چې په ښوونه او روزنه کې منځته راغلي دي. نیولیک داسې مثبته تګلاره وړاندې کوي، چې د ښوونکي او د هغه د چاپیریال په ظرفیت کې شته. نو له همدې امله د شخړې پر وخت د ماشوم په پېژندلو کې د تدریس د شرایطو په توګه د سیکالوژیکو عواملو پر اهمیت ټینګار کېږي.

د ښوونکي پاملرنه باید د ستونزو ماهیت ته راواړول شي او د هغو شخړو د حل لپاره داسې کړنلاره غوره کړي چې ماشوم تر اغېزو لاندې راولي. تر فشار لاندې ټولګي منجمنټ هڅه کوي چې د ټولګي په هکله هغه فشار بیا تعریف کړي، چې ښوونکی او زده کوونکی دواړه تر اغیزو لاندې راولي. په دې ترتیب خبره د فشار د پېژندلو پر زیرمو او میتودونو راټولېږي. هدف دادی چې ښوونکی د مسئلې له همدغو اړخونو څخه خبر شي او ځان ورته چمتو کړي. د قضیې په رڼا کې د ښوونکو ښوونه او روزنه نوښت ګڼل کېږي، پر موضوع باندې تمرکز رامنځته کېږي او په تدریس او زده کړې کې د پوهې پر جزئیاتو باندې

په ګروپي فعالیتونو او داسې نورو ولاړوي ▪

نو له همدې امله پاسنی فرعي موضوعګانې ، یوشمیر فعالیتونو ته اړتیا لري ،چې ټول پېژندل شوي هدفونه په برکې ونیسي ▪ نوموړي فعالیتونه باید دچټکې کاري ځېړنې په بڼه وي ▪ په هرصورت دا په وخت پورې اړه لري ، چې دنوموړي کار دسرته رسولو له پاره ټاکل شوې دی ▪ هدف دا دې چې دچاپېریال په رڼا کې د ماشوم د سابقې د پېژندلو لپاره عملي ګامونه واخیستل شي ، چې ټولګی او ولس دواړه رانغاړي ▪ کله چې مهارتونه زده او هضم شي ، نو دهغو کارول به دښوونکي لپاره روښانه او آسانه وي ▪

د پروګرام بله مرحله دفورمې / وسیلی جوړول دي ، چې دهغې په واسطه په ساحه یا په ټولګي کې فعالیتونه سرته ورسېږي ، چې ښوونکی اود ښوونکي رو زونکی یې عملي بڼه وګوري ▪ دا فورمې / وسایل باید په دقیقه توګه جوړې شي او که چېرې وخت وي ، مخکې له مخکې باید وازمویل شي ▪ دا به دپروګرام له برخوالو سره مرسته وکړي یانې لومړی د ښوونکو له روزونکو سره او وروسته له ښوونکو سره چې په ځرګنده توګه په دې پوه شي چې په جګړه ځپلو ټولنو او په هغه ټولنو کې چې له شخړو څخه ډکې دي او په بېلا بېلو کچو له محرومیتونو څخه کړېږي دماشومانو مهارتونو ته ، وده ورکړي ▪ ددې کړاوونو او ستونزو ټولنیزاړخونه باید په غورسره درک شي ، چې ښوونکي پر دې پوه شي ، دهغه نقش په ټولګي کې پیل کېږي ، او دافغاني ټولنې د لوړتیا لپاره ډېر زیات مسئولیتونه پر غاړه لري ▪ دلته یوازې چټکې کاري څېړنې دفورمی دمثالونو غتې ساحې په ګوته شوې دي او ترتیب یې داړتیا وو له مخې بدلېدلی شي ▪

* داسې زده کوونکي وټاکئ ، چې عمر یې له ۵ - ۱۲ کلنۍ پورې وي ▪ نوموړي زده کوونکي باید

بیلابیله سابقه ولري: هغه مهاجر چې وطن ته راستانه شوې دي، بې موره، بې پلاره دي، د کورنیواندېښنوڅښتنان هلکان اونجونې دي.

*بحثونه / د پېژندګلوی عملیه.

*د بدمرغیو په ګوته کول.

* د بد مرغی اصلی علت پیدا کړئ / د کورنی دغړي له لاسه ورکول / بې ځایه او بې کوره کېدل / تهدید / جبري کارونه اوځورول.

* ژور احساس پیدا کول / د واقعي تحریکوونکي او احساساتي اخلال په ګوته کول که چېرې په یادېې پاتی وي نو واقعه / ځای / څرنګوالی / موضوع / چا / وخت باید په ګوته کړي.

* اوسنی حالت په ګوته کړئ/ ښکاره تغیرات / خطرات او داسې نور.

*له سپینږیرو سره همکاري.

*د واقعي پر ټولنیز او اقتصادي سابقې پوهېدل.

* د ستونزو دمخنیوي او بیا ودانولو او رغونې په باب وړاندیزونه.

* ښوونکي اوسرښوونکي باید دځانګړو ځارنې اومحبت پر اړتیااوو پوه شي.

*له ولس سره همکاري اومرسته.

* دماشوم د پېژندلو اهمیت.

ښایي دا فورمه نوره هم سمه شي، چې له ځانګړیو شرایطو سره سمون وخوري.

لنډیز

پورتنی بحث په شخړو کې دښکېل ماشوم د پېژندلو داهمیت په باب ټینګار کوي. په ټول افغانستان

کې د درس تمرکز د نیولیک پر موضوعگانو باندې دی دغه موضوع په بشپړ ډول د ماشوم د بصیرت قوه کموي. د علي له تدریس څخه د علي پېژندل ډېر ارزښت لري. د دغه هدف به څرنگه لاس ته راشي هغه عوامل چې د ماشوم پر سلوک اغېزه کوي، هغه ساحه د ده چې د ښوونکي پاملرنه ورته په پاسنۍ برخه کې راواړول شود. هغه بېلابېل عوامل چې له شخړو څخه په ډک حالت کې د ماشوم پر سلوک اغیزه کوي، باید د هغه پېدا گوگ پواسطه په غور سره وڅېړل شي چې د ښوونځي په کارونو کې بریالی وي. د دې ډول مهارتونو وده د ښوونکي لپاره ډېر ارزښت لري. هغه مېتودونه چې له هغو څخه په دې برخه کې کاراخیستل کېږي، د دې کتاب د امکاناتو له مخې بیانېږي. له لوستونکو څخه هیله کېږي چې پر هغو فعالیتونو، نور داسې فعالیتونه ورزیات کړي، چې په روزنیز پروگرام کې یې وړاندیز شوی دی.

PROPERTY ACKU

دریم فصل

د فشار پر وخت د ټولګي نظم او اداره

تر فشار لاندې منجمنټ لپاره دلېلونه :

بله هغه موضوع چې په دې کتاب کې وپېژندل شوه د ټولګي نظم او اداره ده . دا موضوع توضيح ته اړتيا لري. فشار په افغانستان کې يوه عامه بڼه غوره کړې ده . دې موضوع د ولس ټول اړخونه داسې تر اغېز لاندې راوستي دي، چې هېڅوک ورڅخه ژغوريدلای نه شي. ښوونځی له بېلابېلو فشارونو سره مخ دی. نوموړو فشارونو د موادو له نشتوالي، د ښوونځيو د بنسټ له ړنګېدلو، او درسي کتابونو له نشتوالي څخه سرچينه اخيستې ده. ماشومان له محروميتونو او اندېښنو سره چې په پرله پسې مهاجرتونو او بې ځايه کيدو سرمل دي ښوونځيو ته راځي . ښوونکي تر شخصي فشارونو لاندې دي او په داسې ستونزو او سناريو کې ګير دي چې د دوی له کنترول څخه بهر دي. دا ټول د ټولګي پر نظم او اداره منفي اغېزه لري. په هرصورت ، ښوونکي بايد نوموړې نيمګړتياوې د ټولګي د نظم او ادارې پر وړاندې، د يوې پلمې په توګه ونه کاروي. نو له همدې امله ښوونکو ته لارښوونه کېږي، داسې ستراتيژي غوره کړي، چې تريوې اندازې پورې تر فشار لاندې حالت کې، پر نظم او اداره بريالي شي. د ماشوم لپاره ښوونکي ژغورونکي دي. ښوونکي هغه څوک دي چې له هېواد سره مرسته کولای شي چې په يو څو لسيزو کې ، داوسنيو اندېښنو او شخړو پر تراژيديو بريالي شي. ښوونکي په دې کار هله بريالي کېدی شي چې ماشومان ښوونه او روزنه لاسته راوړي. د ښوونکي د غه ارزښتناک او حياتي نقش بايد د هغه چا په واسطه چې د ښوونې او روزنې د ودې مسئوليت پر غاړه لري، پياوړی شي ، ملاتړ يې وشي او وروزل شي. د همدې دليل له مخې دا موضوع په روزنيز پروګرام کې شامله شوې ده.

پر میتودولوژۍ او د ټولګي په نظم او اداري باندې د ښوونې او روزنې د پروګرام ټینګار دی. دغه ښايي دداسې هېواد په هکله رښتني وي چې تر افغانستان لږې شخړې لري. اندېښنې او شخړې له یاده ویستل او یا په پام کې نه نیول او په پیداګوژیکي اړخ باندې تاکید کول د ښوونکو د روزنیز پروګرام نړیواله بڼه ده. دکچې له مخې د اندیښنو هغه عوامل چې په افغانستان کې شته او د ټولګي نظم او اداره داغېزو لاندې راولي، په زیاترو هېوادونو کې نه موندل کیږي. په کومو ځایونو کې چې دا ډول اندیښنې موجودې وي، اندیښنې په میتودولوژۍ کې په پام کې نیول کیږي. ښه تدریس له اغېزمنې اداري سره اړیکې لري. ددې مانا داده، هغه ښوونکي چې خپلې دندې په ښه توګه ترسره کوي، لږې اندیښنې لري. په دې ډول ټولې هغه مسئلې چې له نظم او اداري سره اړیکې لري، په ښه ډول حلېږي. په همدې ډول په کوموځایونوکی چې ځارونکي زده کوونکي او د ښوونځي مبصر د ټولګي د منجمنټ مسئولیت پر غاړه واخلي چی د ښوونکي په غیابت کې، ټولګی ترنظم لاندې راولي، کولای شي د ښوونځي د منجمنټ ستونزې حل کړي. خودا په اداري دسپلین پورې اړه لري او تر فشار لاندې ساحې په نظم او اداري او منجمنټ پورې اړه نلري. د فشار عوامل له دسپلین څخه زیات سیکالوژیکي اړخونه لري. او د ټولګي د نظم او اداري په برخه کې ظاهري بڼه لري. دسپلین ښايې د زور او فشار په واسطه په ټولګي کې رامنځته شي او په ټولګي کې دبې د سپلینۍ مخه ونیول شي. په دې صورت کې له لښتې څخه دډار په منظور ګټه اخلي او د وهلو لپاره ورڅخه کار نه اخیستل کیږي. تر فشار لاندې منجمنټ پر موضوع ښه پوهېدل ډېر غور او مشورې غواړي.

د فشار نظم او اداره ډېرې ژورې ریښې لري او د ماشومانو په واسطه له منځه تللی نه شي، ځکه چې هغوی هم له فشار سره مخ دي. فشار په زیاترو حالتونو کې په سترګو نه ښکاري او د ښوونکو او زده کوونکو فشارونه پټ دي او په ټولګي کې له د موسکا، او رسمیاتو څخه نه ځرګندېږي. د افغانستان په برخه کې فشارونه په ځرګنده توګه ښکاري او ټول همغه دي چې په شخړو کې ښکیل ماشوم وپېژني تر عنوان لاندې ور باندې مخکې بحث وشو او شخړې تحلیل شوې. همدا اهمیت دی چې د فشار عامل، د ټولګي په نظم او اداره کې، په ځانګړې توګه تربحث لاندې نیول کیږي، چې موضوع د ښوونکي لپاره ښه

روښانه شي. په حقیقت کې د ټولګي فشارونه خپله د ښوونکي د فشارونو په واسطه نورهم زیاتېږي، ځکه چې ښوونکی هم ددې حالت تر اغېزو لاندې راځي. نو له همدې امله په افغانستان کې ددې اړخ ارزښت په لاندې ډول وړاندې کېږي.

د ټولګي د نظم او ادارې فرعي عنوانونه په لاندې ډول دي:

الف: د ښوونکي فشارونه.

ب: د موسسې فشارونه.

ج: د زده کوونکو فشارونه.

د: د زده کړې فشارونه.

هـ: د چاپېریال فشارونه.

و: د کورنۍ او ولس فشارونه، او

ز: ټول یوځايي فشارونه.

ددې برخې، هدف دادې چې ښوونکي د فشارونو مسئلو ته چمتو شي. دا دهغه د ذهن د روښانه کولو عملیه ده چې ددې توان پیدا کړي، چې د مناسبې ستراتېژۍ د غوره کولو بېلا بېل امکانات ولټوي.

د ښوونکي فشارونه د مسلکي مهارتونو په نشتوالي او په معاش پورې اړه لري. د ښوونکو معاش کم دی، په میاشتو میاشتو معاش نه ورکول کېږي او یا په بشپړ ډول معاش نه ورکول کېږي. د درسي موادو نشتوالی لکه درسي کتابونه، د تدریس لپاره لاربنود، قرطاسیه، په ټولګي کې د زده کوونکو ګنډوالي، څوکۍ او مېزونه، فرش او همدارنګه اړتیا وړ نور و موادو نشتوالی. د ادارې له خوا د مسلکي ملاتړ نشتوالی، د ښوونکي لپاره د پاملرنې وړ بله موضوع ده. د زده کوونکو د کورنیو په واسطه د ښوونکي ملاتړ نه کېږي، کورنۍ په خپله فشارونه لري. دا هم د ښوونکو په ستونزو ور زیاتېږي. نو وینو چې ښوونکي د ټولګي په نظم او اداره کې د مسئلو له یوې لویې لړۍ سره مخ دی چې د ټولګي د ننه او تر ټولګي د باندې اړخونه یا بعد و نه لري. د افغانستان په شان حالت کې ښوونکی د ولس او هېواد مسئلې له پامه نه شي غورځولای، ځکه چې هغه پر زده کوونکو او ښوونځیو دواړو مستقیمه اغېزه

لري. مسئلې د دتل په شان هره ورځ پيښيږي. تر هغواد دننه بې ځايه کيدل يو له ملي مسئلو څخه ګڼل کيږي. هغه فرمانونه چې واکمنو له خوا هره ورځ نافذيږي، د خلکو لپاره ستونزې پيښوي. دخوړو نشتوالي او دورځني ژوند نورې اړتياوې، په دې فشارونو نور فشارونه ور زياتوي. دموسسې فشارونه دادي، چې دښوونځي لپاره څوکۍ، ميزونه، فرش، ځای، مواد، ښوونکي، مسلکي استعدادونه اوداسې نور پيدا کړي. د زده کوونکو دغېرحاضرۍ مخه ونيسي، دولس د علاقې نشتوالی، دومداره مهاجرتونه، تر هغواد دننه بې ځايه کيدل، د بنسټيزو اړتياوو نشتوالی او داسې نورې هغه موضوعګانې دي چې موسسې ورته انديښنه لري. دمدير ذهنيت بله موضوع ده دښايي چې دښوونکو فشارونه زيات او يا زيات نه کړي.

د زده کوونکو فشارونه له دردونو، لانجو اوناتوانۍ څخه سرچينه اخلي چې داوږدو ساعتونو دتمرکز مقابله نه شي کولای. په کورنۍ کې د هغه چاپېرينه چې ماشوم ورسره مينه اومحبت درلود او د ولي / سرپرست نشتوالی هغه دوه سيکالوژيکي فشارونه دي چې په افغانستان کې ماشومان ورسره مخ دي. دوی همدارنګه دموادو لکه درسي کتابونو، دليکلو موادو، فرنيچر او دتفريح لپاره دموادو له نشتوالي سره مخ دي. ښه درس نه ورکول کيږي، ښوونکی د زده کوونکو ستونزې نه درک کوي، مناسبه ارزونه نه کيږي او د سولې کلتور نه شته. دا ټول د فشارونو يو څو مثالونه ګڼل کيږي. دزده کړې فشارونه له پاسنيو فشارونو سره تړاو لري. خو هغه فشارونه نور هم هغه وخت زياتيږي، چې بنسټيزې اړتياوې پوره نه شي او له زده کوونکو سره داسې احساس پيدا کړي چې ارزښتناکه وخت يې له لاسه وځي او په نږدې راتلونکي کې د ښه ژوندانه هيلې هم نشته، نو نوموړي له شک، وېرې او فشارونو سره يوځای کيږي او زده کوونکي رانغاړي.

دچاپېريال فشارونه هغه عوامل دي چې له جګړو او شخړو څخه راپورته شوې دي. ماينونه نه يوازې فشارونه نه دي، بلکې، وژونکي هم دي، چې ماشومان وژني اوباج ورڅخه اخلي. استوګنځايونو ته نږدې د ښوونځيو نشتوالی او له ښوونې او روزنې څخه دنجونو محرومول، هغه دوه غټ عوامل ګڼل کيږي چې له دې فشارونو سره اړيکي لري. دهځونې اوانګېزې نشتوالی هغه فشاردی چې زده کوونکی، ښوونکی او مدير ورسره مخ دی. پانګه دجګړې لپاره کارول کيږي، په داسې حال کې، چې دښوونځيو

دبنستیزو اړتیاو د پوره کولو لپاره په مطلق ډول پیسی نه شته. یوازې د سولې تصور په خپله یو فشار بلل کیږي.

کورنۍ او ولس د مصؤنیت په فکردي. د مختلفو واکمنو له خوا په مختلفو وختونوکې، پرته له دې چې پر دلیل یې وپوهیږي په بېلا بېل ډول تر فشار لاندې نیول کیږي. دا پر دوی باندې د خپلو ماشومانو لپاره له ښوونې او روزنې، سره د مینې، ملاتړنې پاملرنې سرچپه، اغېزمنه کوي. تر هېواد د ننه بې ځایه کیدل، مهاجرت، د ملکیت له لاسه ورکول او د ملکیت دارزښت کمېدل، د ناتوانه ماشومانو / سپین ږیرو موجودیت هغه فشارونه دي چې کورنۍ ورسره مخ دي.

ټول نوموړي فشارونه په یوځایي ډول پر ماشوم اغېزه کوي، چې په پای کې په ماشوم کې د مصؤنیت د نشتوالي او د بې باورۍ حس پیدا کوي.

کومه ستراتیژي باید رامنځته شي چې پر دغو ستونزو بریالي شو؟ له کوم ځایه څخه د دې مسئلو پر حل پیل وکړو؟ آیا ښوونکی غواړي په یوازې توګه د دې ستونزو سره ځان مخ کړي او که خپله توانایې له نورو تجربه لرونکو سره شریکه کړي؟ که چېرې داسې وي، دا خلک به څوک وي او څرنګه به په دې برخه کې مرسته وکړي؟ دا هغه بنسټیزې پوښتنې دي، چې د ستونزو د حل په ګوته کولو کې راپورته کیږي. د بنسټ له مخې ښوونکی باید د حل په ګوته کولو کې ډیر حریص نه شي. هغه باید خپل محدودیتونه او د ماشوم او ولس هیلې وپیژني.

د ښوونکو په روزنه کې باید د پورتنیو ټولو فرعي موضوعاګانو له پاره باید له (الف) څخه تر (ز) پورې هدفونه وټاکل شي. د دې تمرین هدف دا دې چې ښوونکی د مسئلو په جزئیاتو پوه شي او د مسئلې د پېچلتیا په باب، او هغه ستونزې چې ښوونکی د تدریس زده کړې په لړۍ کې ور سره مخ دی، څرګند معلومات ولري. د مثال په ډول د ښوونکو د فشارونو فرعي موضوع (چې د پاسنۍ ۱ . فرعی موضوع ده) په لاندې ډول وړاندې کیږي.

۱- د ښوونکي د فشارونو ماهیت باید وپېژني.

۲- هغه عواملو ته باید کتنه وشي چې د نورو فشارونو سبب ګرځي.

۳- چې وکړای شو د ښوونکو فشارونه د نورو له فشارونو سره پرتله کړو.

٤-چې ولېدل شي ښوونکي نومړي مسئلې له همکارانو او امرېنو سره شرېکې کړې دي او که نه؟

هدفونه باید په مناسب ډول له هغې مسئلو سره سمون وخوري چې ښوونکي په چاپیرېال کې ورسره مخ دي.

سربېره پردې، لکه څرنگه چې په لومړنی موضوع کې هڅه شوې وه، یو شمېر عملي فعالیتونه باید رامنځته شي، چې ښوونکي ته ځواک ور وبښي چې پر هغې کار وکړي او همدارنگه ښوونکي ته باید موقع برابره شي چې د مسئلی په باب ژور فکر وکړي. نو باید:

الف: ترفشار لاندې حالت د منجمنټ په اړه خپل فعالیتونه، عکس العملونه وڅېړي

ب: په ښوونځې کې او په نورو ښوونځېو کې د خپلو همکارانو کړنلارې وڅېړي،

ج: له مدیر او همکارانو سره په پورتنیو موضوعگانو بحث ېوازې یوځومشالونه گڼل کېږي. ورته فعالیتونه باید د ټولو فرعي موضوعگانو په هکله لکه چې مخکې په گوته شوې دي، ترسره شي.

دا د چتکې کاري څېړنې ېوه برخه ده، چې مخکی ور څخه یادونه وشوه، چې نومړي ښوونکي ته د دی توان وربښي چې ستونزه په ژوره توگه وڅېړي او مسئلې ته له بېلابېلو اړخونو څخه وگوري.

ښاېي د عمل دوه عمده ساحې په گوته شي چې د نومړی عواملو د فشار درجه رابنکته کړي.

الف: د پلي کولو کړنلاره او.

ب: د ټولگي ترتیب.

١- دافغانستان لپاره ځانگړې کړنلارې.

الف: د پلي کولو کړنلارې.

څرنگه چې فشارونه په منجمنت کې ستونزې رامنځته کوي او ستونزې بېا د زده کړې ټوله لړۍ

تراغيزو لاندې را ولي، نو ددې لپاره چې ښوونکي پر دې ټولو ستونزو برياڅي نو هغه ته په کارده چې په تدريس کې له ډېر نوښت څخه کار واخلي. ضروري نه ده چې ښوونکی خپل فعاليت د نيوليک په رانغاړلو متمرکز کړي، بلکې هغه ته په کار ده چې له زده کوونکي سره مرسته وکړي چې موضوعګانې درک کړي. سره له دې چې داکار د محتوياتو د پرمختګ اندازه راکموي، خو د زده کړې عمليه په ژره پورې کيږي او هڅول کيږي. ددې لپاره چې دا عمليه اغېزناکه تمامه شي، بايد له بېلابېلو ميتودونو څخه چې بېلابېلې محلي زېرمې او مواد کار وي، ګټه واخيستل شي. په ټولګي کې د دوستانه فضاء را منځته کول به د اخلال لانجې کمې کړي.

هغه څه چې د افغانستان په برخه کې له دې کړنلارې څخه د ګټې اخېستنې په برخه کې مهم دي دا دي چې زيات زده کوونکي په ښوونځيو کې شامل شي او زيات وخت په سيستم کې پاتې شي. همدا دليل دی چې ټولګی بايد له فشارونو څخه وژغورل شي او ددې کار کيلي له ښوونکي سره ده. که چېرې د هغه تدريس کمزورې وي او کړنلاره يې ستړې کوونکې وي، نه يوازې زده کوونکي به د تدريس فضاء ستړې کوونکې ووينې او منفي عکس العملونه به څرګند کړي، کورنۍ به هم غوره وبولي چې ماشومان له ښوونځي څخه لرې وساتي. سربېره پردې ښوونکي به غوره وبولي چې له ټولګي څخه ځان ګوښه وساتي، ځکه چې ښوونکي به ستړې کوونکي فضاء د زده کوونکو د عکس العمل نتيجه بولي. دا واقعيت بايد له ياده ونه باسو چې زياتره ښوونکي مسلکي تجربه نه لري، او داسې مهارتونه هم نه لري چې له بلې هڅوونکې کړنلارې څخه کار واخلي. په پای کې به دواړه خواوې منفي عکس العملونه وښيې او د ښوونکي او زده کوونکي هيلې به تاوان ومومي. ښوونکی بايد دا درک کړي چې ښوونځی په ولس کې يوازېنی ځای دی او يا يوازېنی ثبات لرونکې موسسه ده، چې هلته سوله شته او ماشومان په کې منل کيږي. د ښوونکي نقش بايد د منلي دوست په شان وي، چې ماشوم ته ښه راغلاست ووايي او روغبړ ورسره وکړي. که چيرې د ټولګي فضاء مناسبه شي، نو لږ ماشومان به عسکر شي. ددی لپاره چې د ماشوم علاقه جذب کړو او ماشوم د جګړه مارو له ښکار او منګولو څخه وژغورو، نو له بېلابېلو نوښتګرو موډلونو څخه

تهینګار کېږي. د موضوع تګلارد له ښوونکي سره مرسته کوي چې د زده کړې د وضعې کوچنی عناصر ترکتنې لاندې ونیسي او داسې ستراتیژي غوره کړي چې همدغه کوچني عناصر بیان کړي. دغه چلند له زده کوونکو سره مرسته کوي، چې پر درس پوه شي، ځکه چې په دې صورت کې هغه کوچنی موضوعګانې تدریسېږي چې له اصلي موضوع څخه را بېلې شوې دي. د موادو جوړول چې د موضوع له مخې برابرېږي، تر دې برخې وروسته راځي. کله چې په تدریس کې د موضوع د بنسټ له مخې چلند تعقیبېږي، ښوونکي پوهېږي چې ولې، کله او څرنګه باید مواد جوړ شي او د ماشوم لپاره ورڅخه کله او څرنګه ګټه واخلي. پردې سربېره د نیولیک یوه برخه د پلان لپاره تیاکل شوې ده، چې د ښوونکو روزونکي وکولای شي په خپله برخه کې د روزنې پروګرام پرمخ بوځي.

پروګرام په دریو پړاوونوکې پلې شو. لومړی د ماستر ترینرانو د بنسټیزې روزنې لپاره په پېښور کې ۸ ورځنۍ ورکشاپ جوړ شو. تر دې وروسته د افغانستان د لرو مرکزي سیمو د بامیانو ولایت په یکاولنګ ولسوالۍ کې د ښوونکو د روزنې لپاره دوه میاشتنۍ ورکشاپ جوړ شو. وروستنی پړاو چې په اګست کې په یکاولنګ، ورس او پنجاب کې پیل شوی و تر نهو میاشتو زیاته موده یې ونیوله. د پلان له مخې داسې پتېیل شوې وه چې په ساحه کې د پروګرام څارنه وکړي او که اړتیا پېښه شي د روزنې د پروګرام په جریان کې ځینې تغیرات راولي چې که وکولای شي له دې پروګرام څخه د نورو سیمو لپاره د یوه موډل په توګه ګټه واخلي. وروسته مې د ښوونې او روزنې له یو افغان ماهر څخه هیله وکړه چې دغه کتاب په پښتو وژباړي، وروسته به همدغه کتاب په دری ژبه هم خپور شي.

زه له ټولو هغه مسلکي او اداري مرستو څخه چې د دې پروګرام د پلي کولو لپاره سرته رسېدلې دي د UNESCO - UNHCR - UNOPS ، د افغانستان لپاره د سویډن د کمېټې (SCA) او له افغانستان سره د بلجیم د پیوستون د کمېټې له مشرانو، د یکاولنګ د ښوونې او روزنې د څانګې له کارکوونکو څخه ډېره مننه کوم. په تېره بیا د (UNOPS) له سیمه ییزې منیجرې اود پروګرام له ناظمې ښاغلې پیپابراډفورډ څخه ډېره مننه کوم چې په زړه پورې تنظیم یې کړې و. ښاغلې روزابلن اګیری ګومیز ګورټیا او ښاغلي بکر حسین (UNESCO)، په ورکشاپ کې د ښاغلي ډیانا پورټر له مرستې او ډاکټرې انجم

باید کارواخیستل شي. که چیرې له موجوده میتودونو څخه کار واخیستل شي، نو دا به د موجوده حالت په ساتولو کې مرسته وکړي. په لېږدوني کې سمون به په ښوونځي کې د منجمنټ د فشار عوامل راکم کړي.
ځینې مثالونه چې له پاس سره اړیکي لري، ماشوم به وهڅوي چې له ښوونځي څخه بهر کار وکړي، په دې صورت کې باید له هغه سره په نوښتګرو کارونو او په ډله کې د کار کولو په برخه کې مرسته وشي، مسابقه دې وشي او سپین ږیري دې، دې مسابقې ته راوبلل شي او داسې نور.

ب : د ښوونځي ترتیب او تنظیم

په افغانستان کې ډیر کم مناسب ښوونځي موندل کیږي. په واقعیت کې، همدا دریغ، په زیاترو هېوادونو کې لیدل کیږي. په دې هېوادونو کې مناسب ښوونځي له معیار څخه اوچت حالت ګڼل کیږي. ښایي دا وضع په راتلونکي څوکلونو کې همداسې پاتې شي. کیږدۍ، خالي کانټینرونه، دونو سیوري، کرایي کورونه، د کورونو انګړ، کلیوالي ښونه او داسې نور په افغانستان کې د زده کړې عام مرکزونه ګڼل کیږي. سره له دې چې، دا بشپړ نه ښکاري، او پرده په کې نه مراعات کیږي، خو له هغو ځایونو څخه غوره ګڼل کیږي، چې هلته هیڅ ډول امکانات نه شته. فشارونه هم هغه وخت زیاتیږي، چې د ښوونځي دننی ترکیب او ترتیب ولیدل شي، چې د بېلابېلو سنونو زده کوونکي په عین ښوونځي کې ناست وي. کله چې ښوونکی غواړي چې په عین وخت کې د زده کړې دنده په یوشمیر ښوونځیو کې سرته ورسوي، نو د درس ورکولو او زده کړې عملیه نوره هم پیچلې کیږي. د ښوونځي منجمنټ ډیرې لږې اداري دندې لري لکه د نوم ثبتول، د ورځني ریکارد کتاب، په ترتیب سره د نورو کتابونو او موادو ایښودل، د ښوونځي پاکوالی، مصئونیت، له نورو ښوونځیو او مدیر له خوني سره د ښوونځیو د نورم له مخې سمون او داسې نور. دا ټول د ښوونکو مسؤلیتونه دي، چې ښایي ځینې یې زده کوونکوته ورکړل شي. دا هله امکان لري چې ښوونکی د نومړي کارونو د سرته رسولو ظرفیت څرګند کړي.
په دې ډول بېلابېلو حالتونو کې، چې زیرمې نه شته آیا هغه باید یوازې پاتې شي او منفي ذهنیت پیدا کړي او با به دیو نوښتګر په توګه له موجوده زیرمو څخه ښه ګټه واخلي؟ هغه به مقابله ونه مني؟

څرنګه به ښوونکی ددې توان پیدا کړي، چې مخ پر زیاتیدونکي ستونزو لپاره دحل لاره ولټوي؟ هغه به له نوی حالتونوسره مقابله وکړي او دیرغل پرنسیپ به ددفاع دیوې ښې بنې په توګه غوره کړي؟ داځینې پوښتنې دي چې د هغه، ټولګیو دمنجمنټ په باب راپورته کیږي چې تر فشارلاندې دي. په واقعیت کې روانه عملیه دمنجمنټ په بحران پورې اړه لري. په افغانستان کې ښوونکي باید له دې وضعې سره مقابله وکړي، چې پر دې ستونزو بریالي شي. دوی باید ددې ستونزو پای ته رسیدوته منتظر پاتې نه شي، ځکه چې دا ستونزې به تر ډېره پورې پاتې شي. د ښوونځي سیستم به اړ وي چې له دې مسئلو سره ژوند وکړي، ځکه نوموړو مسئلو ته به دحل لارې له ټولګي څخه بهر په بل ځای کې ونه موندل شي. داسې هڅه باید ونه شي چې له بهرنیو میتودونو څخه ګټه واخیستل شي، ځکه کېدی شي هغه موقتي وي او حتی مسئله به نوره هم پېچلې کړي په تېره بیا که چېرې نوموړې مرستې ودرېږي. ان دناکامۍ په صورت کې، ښوونکي باید مخ پر وړاندې لاړشي. یوازې په خپلو هڅو د طبیعي ستراتیژۍ له مخې دحل لاره موندل کیدي شي.

دټولګي دمنجمنټ میتودونه، باید پر دې ولاړ وي، چې څرنګه له زده کوونکي څخه فشار لری کړو، د هغه ویره باید کمه شي، او ترهغه ځایه چې ممکنه ده په دې برخه کې باید شخصي پاملرنه وشي. ښوونکي لویان دي، نو دماشوم په نسبت باید خپله ناکامي اوستونزې په دویمه درجه کې راولي. همدغه ځای دی چې همکاري او مرستې له همکارانو اوکارکوونکو سره په ښوونځي کې ارزښت پیدا کوي. له همکارانوسره دشخړو په هکله نارسمي اودوستانه بحث، ښايي دستونزودحل لپاره نوې مفکورې رامنځته کړي ان له هغوی سره یوازې بحث، ښايي پر فکربانـدی فشار کم کړي، همدارنګه ښايي چې ځینې همدې بدمرغیوته غوږ کیږدي. داهغه لاره ده چې احساس سره شریکیږي. درد، درمل کیږي او په همدې ډول فشار کمیږي.

۲. عمومي عوامل

دابرخه پر منجمنټ متمرکزده. او په عمومي ډول هغه اړخونه بیانوي چې تر نورماله شرایطو لاندې کارول کیږي. له دې څخه دافغانستان په ښوونځیو کې ګټه اخیستل کیږي. نوځکه دابرخه په دې کتاب ورزیاته شوې ده.

نومړو ساحو ته له دریو بېلابېلو اړخونو څخه کتل کېدی شي. متغیروونکې تګلارې، دغه تګلارې په

ټولګي کې د ښه تفاهم چاپېر یال او فضاء په رامنځته کولو کې مرسته کوي، بې ترتیبي او نامطلوب سلوکونه تنظیموي، پر ځان باور ځرګندوي او مثبتې اغېزې کوي. Richard1.Arends,1999

د ټولګي د ګډوډۍ مخ نیوونکي تګلارې :

داتګلارې قانون او طرزالعملونه دي او مانا یې داده چې ماشومانو ته د قانون او طرزالعمل په هکله مخکې تر مخکې خبر ورکول کېږي. دا له ماشومانو سره مرسته کوي، چې پر دې پوه شي، چې له دوی څخه د ټولګي په فعالیت او ښوونځي کې څه غوښتل کېږي. په دې توګه دوی پوهېږي، چې دلته د سلوک نورمونه شته چې د هغوله مخې هغه کارونه چې په ټولګي کې کار اخلالوي او بې نظمه کوي یې سنجول کېږي په ټولګي کې قانون له زده کوونکو سره مرسته کوي، چې پوه شي، کوم کار و کړي او له کوم کار څخه ډډه وکړي. طرزالعمل په هغه میتودونو او کړنلارو پورې اړه لري، چې کار تنظیموي او هدف لاس ته راوړي. د مثال په ډول، د زده کوونکو تګ او راتګ باید په ښوونځي کې په منظم ډول وي. د زده کوونکو خبرې چې مهمې دي باید له فعالیت سره اړیکي ولري او له دندې سره مناسبې وي. له پورتنیو یادو شویو موضوعګانو څخه یوه هم د ماهیت له مخې مختل نه شي دا په ځانګړې توګه د افغانستان په هکله ډېرې مهم دي، ځکه هلته په ښوونځیو کې اسانتیاوې نه شته.

قانون او طرزالعمل هغه وخت ښه کار ور کوي چې تدریس اغېزمن وي. په حقیقت کې د ټولګي اغېزمن منجمنټ لږو قوانینو او طرزالعملونه ته اړتیا لري او هغه د ښه تدریس په واسطه ترسره کېږي. زده کوونکي باید د غلي کېناستلو یا د غلي کېدو پر ارزښت پوه شي او باید د مسئولیت له مخې چلند وکړي. دا ټول په ښه منجمنټ پورې اړه لري. منیجر باید د قوانینو او طرزالعملونو له تطبیق سره توافق ولري. د دې مانا داده چې ښوونکی باید هغه میتودونه چې د منجمنټ په اړه دي تبدیل نه کړي. که چېرې ښوونکي نومړي

قوانین اوطرزالعملونه ژر بدل کړي نو خپل ارزښت له لاسه ورکوي. یوښه مثال یی دادی چې پر یوه وخت یو زده کوونکی باید له ښوونکي سره کاروکړي اوټول زده کوونکي باید دښوونکي دمیز پر وړاندې ګڼه ګوڼه جوړه نه کړي. که چېرې دا قانون وي، نو دا باید وروسته مات نه شي، دا دغیر نورمال سلوک دمخنیوي بل مهم ګام دی چې دټولګي په منجمنټ کې باید په پام کې وساتل شي. دې اړخ ته باید په افغانستان کې ډیر غور وشي، ځکه چې افغاني ماشومان، په تېره بیا هغه چې دماغي ستونزې او فشارونه لري، ډېر غور او احتیاط په کاردی. د ټولګي دفعالیتونو نورمال حالت باید مختل نه شي. کله کله ښوونکی په نا مسئولانه ډول دماشوم فکر د هغه له کارڅخه چې په ډېر شوق پرې بوخت دی بلې خواته اړوي یا ښوونکی بې له دې چې وګوري زده کوونکو پخوانی کاربشپړ کړي دی او که نه، نوی فعالیت پیلوي. دټولګي دفعالیت د پېل اوپای رسمیات باید څرګند او دښوونځي دقانون اوطرزالعمل له مخې وي. دښوونکي لفظي اونالفظي سلوک باید څرګند اوادبي وي. د پیغام په لیږدونه کې دقیافی په څرګندولو کې له ګوتواولاسونو څخه په ګټې اخیستنې پورې اړه لري چې مثبت اومنفي دواړه اړخونه لري.

له زده کوونکو سره محاسبه، بل اړخ دی چې په قانون اوطرزالعمل پورې اړه لري. داد کورنیو وظیفو/ تمرینونو دسمون او اصلاح کولو په میتودونو پورې اړه لري. دا باید له هغه منظم طرزالعمل سره توافق ولري چې د زده کوونکو دکاردڅارنې لپاره رامنځته شوې دی اوکه اړتیا پېښه شي د زده کوونکو، سرښوونکي او والدینو له پاره مناسب فیډ بیک جوړ کړي.

د ناوړه سلوک مخنیوی :

سره له دې چې ښه تدریس او په ټولګي کې مناسب فعالیتونه د زیاتو مسئلو مخه نیسي، خو ښایي

بیاهم هلته ستونزې موجودې وي. ښوونکی څرنګه کولای شي ددغه ډول سلوک مخه ونیسي ؟

ښایي دا د افغانانو په ټولګیو کې عامه بڼه ولري او علتونه یې هم روحي او ټولنیز عوامل دي.

په دې برخه کې د نامطلوب سلوک په ګوته کول، د موضوع پیل ګڼل کیږي. ښایي د دې ډول سلوک علتونه په لاندې عواملو پورې اړه ولري.

الف : ذهني اختلال،

ب : د ښوونځي د فعالیت ستړي کوونکي بڼه ،

ج : له ښوونځي څخه د باندې د زده کوونکي ژوند (د ښوونځي زیاتره زده کوونکي له ښوونځي څخه په وزګار وخت کې کباړ ټولوي ،مزدوري کوي اوداسې نور د افغان ماشومانو په هکله عامه بڼه لري).

د : دښوونکي / ښوونځي مطلق العنانه قانون او کړنلاره. د زده کوونکي پاملرنه غوښتونکي ماهیت

- په کورکې دزده کوونکی سرپرستې پلار او ولي نشتوالی او داسې نور.

هغه میتودونه چې د نا وړه سلوک پر وړاندې ور څخه ګټه اخیستل کیږي:

عمومي میتود دادی چې د ماشومتوب له تجربو څخه د لاربښوونې له پاره کار واخلو خپل وخت باید دستونزو د ماهیت دسابقې په کتنه تیر نکړو. له زده کوونکو سره نږدې پاتی کیدل یوه بله لاره ده چې د زده کوونکو اخلالوونکې ماهیت غلې کړو. زده کوونکي په دې پوهول چې تاسې ناسم کارونه کوئ د کړنلارې بله طریقه ده. سترګو په سترګو کیدل، په شاټپول ، درس ته دوام ورکول نوري لارې دي چې د نامطلوب سلوک د مخنیوي له پاره ګټور تمامیږي.

پر ځان باور اوتر خپل اغېز لاندې د زده کوونکو راوستل.

باورښودل اوتر اغېزې لاندې راوستل د ښوونځي د منجمنت داغیز منتوب دریم میتود اولارد ګڼل کیږي. قوانین اوطرزالعملونه په ځانګړې توګه له ښوونکي سره مرسته نشي کولای، چې ښوونځي ښه فعالیت وکړي. د ښوونکي لیډرشیپي اوپه دې هکله شخصي اړیکي حیاتي ارزښت لري. دا به له نوی ښوونکي لپاره ډېر مشکل وي چې ټول نوموړي فعالیتونه سرته ورسوي، خو په هرصورت په ځان باور په منجمنت کې ډېره اغېزه لري. د ښوونکي په ځان د باورښودلو د سلوک ځانګړتیاوې، د خبرو دغږ، ظاهري ښرنګوالي، ایمان او عقیدې اولباس پورې اړه لري. شخصي اړیکي په لاندې زېرمو پورې اړه لري.

نوموړې زیرمې دادي:

الف : تشویق

ب : د تشویق ظرفیت

ج : د مقام قدرت

د : د ښوونکي مهارت

و : له ځانه مینه اومحبت ښودل.

د ښوونځي اغېزمن منجمنت باید روښانه اوښرګند قوانین اوطرزالعملونه پلي کړي او زده کوونکي وربانديې په بشپړډول خبر کړي. د ښوونځي د سلوک اوعلمي کارونوپه اړوند باید د زده کوونکي عملونه د یو منظم سیستم له مخې محاسبه شي. د مداخلې مناسب مهارتونه باید غوره شي او له شخصي نفوذ ځخه ګټه واخېستل شي، چې ښه سلوک تشویق شي او وده وکړي. ښوونکی باید قاطع وي او د ښوونځو زده کوونکو سره باید یو ډول غوره مناسبات ټینګ کړي.

د ښوونځي د منجمنټ دارزیابۍ فورمې په لاندې ډول وړاندې کیږي.

لومړی جدول

دمنجمنټ د فشارونو دحلولودکړنلارولنډیز

مسئله	زیرمي	ستراتیژي	عملیه
د درس لپاره دټولګي نشتوالی	د حل لاره / بن / کیږدی / سیوری	بل ځای ته وړل / ګروپول / ټول ګروپ / کوچنی ګروپ / انفرادي زده کوونکي	لفظي / غیرلفظي / فعالیت راپورورکول / ثبتول / په ټولګي کي ټول ټولګي ته دموضوع وړاندي کول
جوړښت څو ځانګیز ټولګي	ښوونکی / ځوان زده کوونکی / همکاران	د توانایي له مخې ګروپ / دعلاقې له مخې / د اصلي موضوع ګانو د ټاکنې له مخې / د واقعیت له مخې یوځای کول	د هرې ډلې لپاره ځانګړي ځای ښوونکي دنوبت له مخې / تکرار تر هغه وخته چې سم شي / دعلاقې پیدا کیدل
د درسي کتابونو نشتوالی	د ښوونکي پوهه / دمدیر ظرفیت / د UNHCR لارښود کتاب	دموضوع له مخې د متن جوړول / نیو لیک / د متن په هکله د ښوونکي کتنې	د موضوع ټاکل / د هر ټولګي او مضمون له پاره نیولیک / د درس لیکل / له مدیر سره مذاکره / د تدریس پیل کول
د موادو نشتوالی / پنسل / کاغذ / کتابچه / توره تخته / تباشیر / اوداسې نور	د کاره لویدلي مواد و څخه ګټه اخستنه / د چاپیریال محلي مواد	له محلي مواد و څخه ګټه اخیستنه / په بصري ډول وړاندي کول / تمثیل / عنعنوي بڼه / په وروا و تدریجي ډول	لفظي / تکرار / ژوره زده کړه / مباحثه / تمثیل / ګروپي کار
د ماشوم رواني – ټولنیزې مسئلې	د ښوونکي دتجربې زیاتیدل / دکلي مشران / هغه موسسې چې بابد وکتل شي / ماشومان / هغه کسان چې له ماشوم سره زیات نژدې وي	غیر رسمي غونډې / پر ګټیلو باور / د علتونو په ګوته کول / دمشرانو سره لیدنه کتنه	مسکا / دمحبت کلمې / نزدېوالی / انصاف / زغم / ټولګي دویم کور / لارښود شوې مشورې / تشویق / د پیسو ګټل کار / زده کړه / غوږ نیول
ښوونکی	ماشوم / دلیډرنقش / ټولنیز موقف / مسؤلیت	په ماشوم تمرکز / دعاید له پاره د نورو زیرمو پلټنه / د تراژیدي په باب خپله ارزونه / د شخصي تراژېدي له ځرګندولو څخه ځان لري ساتل	مثبت فکر کول / دهغو شرایطو منل چې دافغانستان له پاره مناسب وي

لومړۍ فورمه

دټولګي په منجمنټ کې دڅان ازماښنت

په مهارت کې پوهه　　　　دمهارت د پوهیدنې سویه

لوړه　　منځنۍ　　ټیټه

هغه مهارتونه چې په دي کتاب کې کارول شوي دي؟ په ګوته یې کړۍ او په مناسبه توګه یې استعمال کړۍ

مثال : دقوانینو اوطرزالعمل دجوړولو استعداداو توان

دباورښودلو استعداد

دثبات اوانصاف ظرفیت

دویمه فورمه

په منجمنټ کې د ښوونکي دسلوک مشاهده

(داسې یوه فورمه جوړه کړۍ چې ستاسې د ښوونځي په هکله مناسبه وي)

دریمه فورمه :

دمنجمنټ د فعالیتونو مشاهده

(دفصل له نیولیک څخه په ګټه اخیستنه یوه فورمه جوړه کړۍ چې ستاسې دښوونځي لپاره مناسبه وي)

څلورم فصل

د موضوع له مخې د تدريس او زده کړې کړنلاره

ولې د موضوع له مخې؟

د ورکشاپ دريمه موضوع د موضوع له مخې د تدريس کړنلاره وه. سره له دې چې تګلاره نوې ده، خو په هغه طريقه عملي شوې ده چې په ځانګړې توګه د درسونو او تدريس طرزالعمل نه په ګوته کوي او د ټولو لپاره د منلو وړ وي. په دې کړنلاره کې د موضوع پر مفهوم تاکيد شوی دی. خو د مضمون په سوچه نيوليک ټينګار نه دی شوی. عنعنوي کړنلاره يوازې د نيوليک په باب په کاراچول شوې ده. په دې حالت کې هغه درسي کتابونه چې په افغانستان کې د تدريس / زده کړې په هکله په کاراچول کېږي، واقعيتونه يو له بل سره نه نښلوي. درس د عنوان له مخې ورکول کېږي او ښايي په متن کې داسې موضوعګانې هم وي، چې د زده کړې په اړوند هم آهنګي رامنځته نه کړي.

د موضوع کړنلاره، ښوونکي ته د دې توان وربخښي چې زده کړې ته وده ورکړي، چې زده کړه ډېره منظمه کړي چې معنی ورڅخه واخيستل شي. د غه کار له موږ سره مرسته کوي چې اصلي موضوع يا مفکوره په فرعي واحدونو / برخو وويشي او ټولو برخو ته پاملرنه وشي، په ځنګل: د اړتياوړ لرګي بايد ورک نه کړو يعني بنسټيزه موضوع بايد په لويه موضوع کې ورکه نه شي. د موضوع بشپړ تحليل له ښوونکي سره مرسته کوي چې د عناصرو په ترکيب او جوړښت پوه شي، د موضوع بشپړ تحليل د مفهوم او موضوع کل جوړوي. د د غه ډول درس د پوهيدو په پای کې د مفکورو تر منځه هم آهنګي او ښې اړيکي رامنځته کېږي. نوی کړنلاره له ښوونکي سره مرسته کوي چې خپل تدريس په درسته توګه پلان کړي

اوخپل هدف لاسته راوړي ـ دبرخو یا اجزاوو د پوهیدویوه پروسه داده چې ښوونکی په دې توانوي چې په مفهوم کې عنصر له یاده ونه باسي ـ دابه ښوونکی په دې وتوانوي چې پوه شي ، ولی اوڅه شې باید په غور سره درس ورکړي او په درسته توګه په خپل درسونو تمرکز وکړي ـ دموضوع کړنلاره ښوونکې ته توانایی وربخښي چې ماشوم د موضوع پرمفهوم پوه شي ـ دا نورهم له ښوونکي سره مرسته کوي چې په موضوع کې بنسټیز عنصرونه و پیژني اودخپلې ستراتیژۍ پر موضوع پوه شي ـ کله چې ښوونکی د مضمون پر موضوعګانو / اصلي عنصرونو پوه شو بیا هغه کولای شي چې ددرسي کتابونو په نشتوالي کې هم ددرس لپاره خپل میتود وتاکي اوپلان جوړ کړي ـ

دغه کړنلاره به څرنګه دماشوم د زده کړې پروسه اسانه کړي؟ ماشوم به دهوې زده شوې مفکورې اړیکي له بلې سره ونښلوي ـ په دې طریقه کې به موضوع داسې تړتیه شوې یا ماته شوې نه وي لکه چې دتدریس / زده کړې په عنعنوي عملیه کې صورت نیسي ـ

زده کړه باید دديوال په شان جوړښت ولري ـ په دیوال کې یوه خښته له بلې سره نغښتې وي ـ کله چې خښتې یو له بل سره نغښتې وي په دیوال کې یوه خښته بله خښته کلکه نیسي اود دیوال جوړښت جوړېږي ـ دغه له عنعنوي کړنلارې سره توپیر لري ، ځکه چې په عنعنوې کړنلاره کې نیولیک لکه د خښتو په شان چی له سمنټو پرته یې دیوال جوړ کړې وي ، ګټه اخیستل کیږي ـ دموضوع کړنلاره مرسته کوي چې دموضوع د پرمختګ سلسلې له ساده اوبنسټیز څخه دمشکل په لورو پیژنو ـ داله ښوونکي سره مرسته کوي چې دځانګړتیاوو جدول جوړ کړي او دماشوم پر مختګ پخپله وګوري ـ د زده کوونکو نیمګړتیاوې او کمزورتیاوې په نښه کړي اود اړتیاوړ په وخت کې دهغې دله منځه وړلو اومخنیوي لپاره هڅه وکړي ـ دمهارتونو وده بله ساحه ده چې باید لاسته راشي ، ځکه چې ښوونکی به پوه وي چې ځانګړې مهارتونه باید وده وکړي ـ په بل عبارت دموضوع له مخې دتدریس کړنلارد دخودي تدریس / زده کړې

عملي له مخې حاصلېږي.

د ژبې يومثال به مرسته وکړي چې د موضوع له مخې د تدريس په کړنلاره ښه پوه شو. په لومړنيو ټولګيو کې، اوريدل د ژبې په زده کړې کې يوه موضوع ده. د تدريس په عنعنوي عمليه کې اوريدل، يوه مفکوره ده چې بايد زده شي او داسې مهارت نه ګڼل کېږي چې بايد وده وکړي. په دې برخه کې د مهارت وده کول دويمه درجه ارزښت لري. د موضوع په دې ډول تدريس او ارزيابي به په واقعيت کې بې اغيزې شي يا به لږه اغيزمنه تمامه شي. سربيره پردې هغه عناصر چې د اوريدلو د موضوع عناصر او برخې جوړوي، ترکتنې لاندې نه نيسي او يا له ياده وځي، ځکه چې د عناصرو د اجزاوو او برخو په باب معلومات نشته.

د نوې کړنلارې له مخې بايد لومړۍ عمده يا اصلي موضوع پېژندل کېږي او بيا وروسته فرعي موضوعګانې او مفکورې تحليلېږي. دا به له ښوونکي سره مرسته وکړي چې د فرعي موضوعګانو د سلسلې مرتبه جوړه کړي او جزئيات ترکتنې لاندې ونيسي. نو په همدې ډول د اوريدلو موضوع يو شمېر فرعي موضوعګانې په برکې نيسي لکه پوهيدنه، درک، مرسته او همکاري، پاملرنه، درناوی، توپېر کول، کټګوري کول، تبعيض، تقليد او داسې نور. داټول د اوريدلو د موضوع له پوهيدنې سره مرسته کوي. د درس په وړاندې کولو کې بايد ټولو دغو اړخونو ته پاملرنه وشي. ځکه چې په دې ډول د اوريدلو موضوع په ښه توګه زده کېږي. ددې معنی دا هم ده چې مناسبه ستراتيژي او د پلې کېدو سيستم بايد رامنځته شي چې ماشوم په بشپړ ډول د اوريدلو پر موضوع پوه شي. نو له همدې امله د موضوع / فرعي موضوع کړنلاره مرسته کوي چې عمده موضوع او مفکوره په کوچنيو عنصرونو وويشل شي کله چې اصلي موضوع په فرعي موضوعګانو وويشل شي. نو دهغو درک کول اسانوي او د موضوع زده کړه په ښه توګه صورت نيسي او پوهه رامنځته کېږي.

رياض الحق د يونسكو د پروگرام له متخصصي څخه چې دليکنې ايډيټ يې پرغاړه درلود او همدارنگه د ښاغلي شفيق احمد (UNOPS) څخه چې په چټکۍ سره يې کتاب خپور کړ، ډيره مننه کوم. زه همدارنگه د پوهنوال لطف الله صافي (د ښوونې او روزنې ماهر، چې اوس له يونسکو سره همکاردی) هڅې ستايم چې له انگليسي ژبې څخه يې ددې کتاب پښتو ژباړې ته غاړه ايښې ده.

ډاکتر س. ب. ايکانايکې

دلومړنيو زده کړو سلاکار

دافغانستان لپاره د UNHCR دفتر، اسلام آباد

١٩٩٨ کال، دجولای ٢٢ نېټه

د پوهې لاسته راوړل :

پر دې باید ټینګار وشي ، زیاتره هغه پوهه، چې زده کوونکی یې ښوونځي کې حاصلوي د زده کوونکي له فکر څخه پردې‌ده نو ځکه د ښوونځي پوهه د بل چا پوهه ګڼل کېږي . هغه معلومات چې په عملي ډول د کار د سرته رسولو په پای کې حاصلېږي نو هغه د ماشوم په افکارو کې تحلیلېږي او د ماشوم د فکر برخه ګرځي . که چېرې هغه معلومات چې غواړو زده کوونکي یې لاسته راوړي په ښه ډول په برخو وویشل شي ښايي داسې پيداګوژيکي ستراتيژي وده وکړي ، چې په تدریجي ډول په موضوع کې د ټولو ماشومانو پوهه او معلومات زیات کړي او هغوی وهڅوي مهارتونه زیات او پراخ شي . کله چې ماشوم له ستونزو یا له یوې موضوع سره مخ شي ، لومړی مرحله دا ده چې ستونزه / موضوع وړاندې شي ، نود موضوع / ستونزې ځانګړتياوې په ګوته کېږي ، چې دلته د فرعي موضوع په نامه یاد شوې دي . چې تر هغې وروسته د دې فرعي موضوعګانو نورې کوچنۍ موضوع ګانې راځي . همداوجه ده چې د ښوونکي نقش له ماشوم سره د مرستې په برخه کې ډېر مهم دی ، چې ماشوم وکولای شي ځينې وختونه په عملي ډول فرعي موضوع ګانې وپېژني . ښوونکی باید دا په یاد ولري چې د ماشوم ماغزه خالي نه دي ، بلکې په هغو کې پوهه او مهارتونه شته او پر یوه وخت وده کوي . ښوونکې باید په زده کړه کې د کل او جزء اړیکې تشویق کړي ، چې معنی یې د چاپیریال پر وړاندې د احساس ښودل ګڼل کېږي . د تدریس / زده کړې په باب د موضوع کړنلار د له هغې زده کړې څخه چې د ماشوم له احساس سره اړیکي نه لري ، او یا په تدریس کې د ماشوم احساس په پام کې نه نیسي ، په ښه توګه د کل او جز تر منځ د اړیکو پوهېدل اسانوي . دا مرسته کوي چې د مسئلې موجوده کوچنې اړخونه د پوهې په چوکاټ کې زده کړي .

د ښوونکي لپاره د لارښوونې مرحلې

کله چې پر موضوع باندې په تفصیل سره بحث کېږي ، دا به ښه وي چې پر موضوع باندې د پوهېدو

کړنلاره او هغه میتودولوژي چې له هغې څخه په تدریس / زده کړه کې کار اخلي وپېژنو.

هغه مرحلې چې د ښوونکي په لارښوونه کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي په لاندې ډول دي:

۱ - د موضوع توضیح ، مانا او تعریفونه یې لکه څرنګه چې پاس بیان شوي دي .

دغه اړخ وخت ته اړتیا لري او باید په تدریجي توګه ډېر ورو تر سره شي او هر څومره چې امکان ولري ، باید په مثالونو کې وړاندې شي ، ځکه چې د موضوع درک کول د وروستیو فعالیتونو د ودې لپاره کلي ګڼل کېږي. د بیانولو عملیه باید په کوچنیو مرحلو کې سرته ورسېږي.

د مثال په ډول د څوکۍ د موضوع مانا به داوي چې بازوګان ، پښې ، د کښناستلو سیټ ، تکیه او داسې نور لري دا کار څوکۍ له مېز یا د کورله بل هر شي څخه ځانګړې کوي. نوموړې د څوکۍ فرعي برخې / فرعي موضوعګانې جوړوي. ددې کوچنیو توکو په ګوته کول د موضوع له درک کولو یا پر موضوع باندې له پوهیدو سره مرسته کوي.

تجربه لرونکي ښوونکي پوهېږي، چې موضوعګانې د فکر کولو لپاره د وداني بلاکونه دی ، چې په هر مضمون کې په کار وړل کېږي . موضوعګانې فرد ته اجازه ورکوي، چې شیان او مفکورې طبقه بندي کړي ، پرنسیپونه او قوانین را منځته کړي. همدارنګه د مفکورو د ودې لپاره د بنسټ په جوړولو کې مرسته کوي او د فکر کولو لپاره لارښوونه برابروي . ماشومان د زده کړې په لومړیو مرحلو کې موضوعګانې زده کوي ، چې د ماشوم په ټول ژوند کې دوام پیدا کوي او وربانديې ، نور پېچلي شیان ورزیاتوي. د موضوعګانو زده کړه د دوه اړخېزه تفاهم د رامنځته کولو لپاره ، ډېر مهم دي. هغه څه چې په ورځني ژوندانه کې پېښېږي او همدارنګه په لفظي متقابل عمل کې چې د خلکو تر منځه تر سره کېږي هم مرسته کوي.

ځینې موضوعګانې مشخصې دي لکه پنډوس، څوکۍ ، مېز ، انسان او داسې نورې... او نورې مجردې دي لکه ، ګردوالی ، اوږدوالی ، لوی والی او داسې نورې.

۱. د موضوعګانو ماهیت

موضوعګانې ښايي په کټګوريو وويشل شي چې ثابت قانون او جوړښت لري. د مثال په ډول، ټاپو او مثلث. ددې دواړو خواص په ټول وخت کې يو شان دي. دلته داسې موضوعګانې هم شته، چې نرمښت منې او پراخه دي. جوړښت او عوامل يې يو شی نه دی او ثابتې هم نه دي. ددې ښه مثال (نوم) دی، نوم کولای شي چې ځای، شخص، جنس يا کوم بل شی وي.

موضوعګانې د مثال په واسطه او له مثال پرته زده کېږي. غوا د تي لرونکي حيواناتو يو مثال دی خو خزنده انسان نه دی. افغانستان د يوه هېواد مثال دی، خو دغه د ټاپو مثال نه دی.

-موضوع ګانې ځانګړې خصوصيتونه لري، خوګډ خصوصيتونه هم لري.

- په هغه طريقه چې موضوع زده کېږي د زده کوونکي د سن، ژبې، جسمې ودې او د ذهني ودې او سويې په واسطه هم تر اغېزې لاندې راځي. چېدا د ودې د مرحلو په پېژندلو پورې اړه لري. نوموړې مرحلې د Jean Piaget په واسطه رامنځته شوې دي (Richard I.Arends 1999).

۲-د هر ټولګي د بېلابېلو درسي کتابونو څېړنه

هغه ورکشاپ چې په دې منظور داير شو، په اوماهاکی د نبراسکا د پوهنتون د ښوونې او روزنې د پروژې (UNO/EPA) درسي کتابونه وکارول شول. سره له دې چې د دغو کتابونو په هکله محدوديتونه وو خو دا کتابونه په افغانستان کې د نا دولتي موسسو او دملګرو ملتونو د موسسو له خوا په پراخه پيمانه کارول کېږي.

سربېره پر دې دا کتابونه تر اتم ټولګي پورې، د ټولو ټولګيو د مضمونو لپاره پيدا کېدل. نو ځکه

کېدی شول چې د ټولو ټولګیو لپاره ټوله لړۍ وڅېړل شي. دا موضوع دبحث لپاره وخت ته اړتیا لري.
ښوونکي باید دمسلک له مخې پر ګروپونو ووېشل شي. مضمونونه ریاضي ، دیني مضمونونه ، ټولنیز علوم او طبیعي علوم رانغاړي. په عمومي ډول ، ښوونکي مخکې تر مخکې ټول کتاب نه مطالعه کوي او ټولګي ته د تللو په وروستیو شېبو کې هغه موضوع چې غواړي په ټولګي کې یې تدریس کړي مطالعه کوي. د متن بشپړه مطالعه له ښوونکي سره مرسته کوي چې د کتاب پر متن پوه شي ، دمفکورو اړیکي درک کړي اود متن پر وروستي هدف پوه شي.

۳- په بېلا بېلو ټولګیو کې د پورتنیو مضمونونو بنسټیزې موضوعګانې او واقعیتونو په ګوته کول.

دا به مناسبه وي چې د تدریس / زده کړې په عملیې کې د موضوع په مانا پوه شو. هغه موضوع چې په دې برخه کې تعریف شوې ده هغه عناصر په ګوته کوي چې د زده کړې له وضعې / هدفونو / موادو سره اړیکي لري او باید د یو ګروپ ماشومانو لپاره کمپوز اووکار ول شي . نوموړي داسې شیان دي چې ښایي ولیدل شي یا ونه لیدل شي ، محسوس وي یا محسوس نه وي. د ټولګي د فعالیت په پای کې د زده کړې عملیه باید ، د ماشوم په سلوک کې تغییر راولي .که چېري دغه کار تر سره شو ، نو په دې صورت کې لیدل کېږي چې موضوع په مناسب او اغېزمن ډول زده شوې ده . دا مرحله مرسته کوي چې دموضوع توکي په مناسب ډول درک شي. ددې لپاره چې نوموړې هدف لاسته راشي دا به ضروري وي چې ښوونکی د اصلي اوفرعي موضوعګانو د تحلیل له کبله پوهه او مهارتونه حاصل کړي . ښایي په ټاکلو مضمونونو اوحالتونو کې دغه موضوعګانې اساسي واقعیتونه په ګوته کړي.

د متن څېړنه د اصلي موضوعګانو /اساسي واقعیتونو په تشخیص کې مرسته کوي. د ماشوم د زده کړې پروګرام باید ددغو موضوعګانو اساسي واقعیتونه راونغاړي. دا باید د ټولګي لړۍ تعقیب کړي.

یعني له ساده څخه پېچلي ته لاړ شي څکه چې د لیاقت او استعداد سویه د سن له مخې زیاتېږي .

کله چې متن په علمي ډول لیکل کېږي ، نو موضوعګانې باید د ټولګي د شرایطو له مخې ولیکل شي.
خو د افغانستان په برخه کې ځینې متنونه په دې ډول نه وي لیکل شوي نوښوونکي باید له یاده وتلې موضوعګانې په ګوته کړي او زده کوونکو ته دموضوعګانو په باب ښه معلومات ورکړي. همدغه موضوع د فرعي موضوعګانو په تحلیل کې لومړۍ مرحله ګڼل کېږي. کله چې د یوه مضمون د موضوعګانو بېلا بېل اړخونه په بېلا بېلو ټولګیو کې وڅېړل شول نو ښوونکي به د موضوعګانو اساسي واقعیتونه وپېژني. په عادي شرایطو کې ، ښوونکي ښایي د یوه ټولګي یا زیاتو ټولګیو د یوه یا دوو مضمونونو پر نیو لیکونو پوه شي او یا هغه مطالعه کړي : نوموړي ټولګي / مضمونونه ښایي پر له پسې ټولګي یا عین مضمونونه، نه وي. نوله دې امله د د زده کړې د اندازې په زیاتوالي کې د ښوونکي ناتواني ځرګندېږي او ښوونکي نشي کولای چې د زده کړې ددرک وړ اغېزناکه، پروګرام جوړ کړي . له بله پلوه د تدریس / زده کړې د موضوع پر بنسټ ولاړه کړنلاره ښوونکي ته توانایي وربښي چې د زده کړې د شرایطو اساسي عوامل وپېژني چې غواړي یې پر تاکلي وخت کې د زده کوونکو په ګټه جوړ او په کار واچوي. د مناسب متن او روزل شوي پرسونل په نشتوالي کې ، دموضوع کړنلاره په تېره بیا د افغانستان په شان هېواد لپاره ډېره ګټوره تمامېږي. که چېرې هغه موضوعګانې چې تدریس کېږي ، ښوونکي یې زده کړي ، نو په دې صورت کې به ښوونکي سیار متن اود تعلیمي نصاب جوړوونکی شي، په تېره بیا په محروم چاپېریال کې. نو له همدې امله دغه کړنلاره ډېره پیاوړتیا لري ، په تېره بیا دهغو ښوونکو لپاره چې په شخړو او فشار کې ښکېل دي اوغواړي چې د موادو ، په درسي کتابونو او مسلکي روزنې پر نشتوالي بریالي شي ،له دغې کړنلارې څخه باید ګټه واخیستل شي.

٤- د هغو فرعي موضوعګانو / فرعي واقعیتونو په ګوته کول ، چې له نږدې څخه له هغو موضوعګانو سره اړیکي لري چې په دویمې ګڼې کې ، ورڅخه یادونه شوې ده.

دا پړاو ډېر مهم او حیاتي ارزښت لري. په دې مرحله کې ښوونکي فکر کوي ، چې څه شي باید په

تفصیل ولیکل شي. د فرعي موضوع مثال چې پاس د لوستلو په موضوع کې ورڅخه یادونه وشوه د یوې موضوع جزئیات په ګوته کوي . جزئیات د کل د مفهوم په روښانه کولو کې مرسته کوي، نوځکه موضوع هرڅومره چې امکان ولري او مناسبه وبریښي، هغومره په برخو ویشل کېږي . دغه موضوع مرسته کوي چې موضوع ښه وپېژنو . ددې موضوع مانا دا ده چې فرعي مواد / موضوعګانې ځان په خپله بیان کړي اود مهمو موضوعګانو / او د بنستیز واقعیتونو په پوهه کې مرسته وکړي.

دغه موضوع همدارنګه له ښوونکي سره مرسته کوي چې بشپړ درسي پلان جوړکړي . پر خپل وخت بودجه ، د موادو جوړول ، ارزښابي اود بلې فرعي موضوع سره د هغې اړیکې او د هغوي تر منځ پل او نور جوړ کړي..

د درسي پلان پر مختګ باید دوامداره وي اود یو پړاو او بل پړاو تر منځ تش ځاي باید پاتې نه شي . سره له دې چې ددې امکانات به نه وي چې یو پړاوله منځه یوسو. همدغه موضوع د فرعي موضوعګانو د پېژندلو په هکله په زړه پورې خبره ده . د فرعي موضوعګانو په ګوته کول ، له ښوونکو سره د فکر په روښانه کولو کې مرسته کوي اود درس په برابرولو کې نوي اړخونه (بعدونه) تر کتنې لاندې نیسي، او په پای کې تدریس د زده کړې او ساحې په اړتیاوو متمرکز کېږي.

٥ - د ښوونکو لپاره دروښانه یادښتونو جوړول . دا ډول مواد د موضوعګانو / فرعي موضوعګانو / بنستیزو واقعیتونو / فرعي واقعیتونو په باب ښوونکوته ښه معلومات برابروي.

ددې توضیحاتو هدف دادی چې د ښوونکو لپاره په تفصیل سره معلومات او لارښوونه برابره شي چې موضوع د ځانګړې تولګې لپاره په عمومي توګه روښانه شي. دموضوع په هکله توضیحات د ښوونکو لپاره د مضمون په برخه کې پراخ نظر برابروي. په لارښود کتاب کې دغه اړخ ډېرمهم نقش لوبوي.

څرنګه چې دا یوه نوې کړنلاره ده ، نو د پاملرنې وړ ده چې د موضوعګانو او فرعي موضوعګانو توضیحات باید د ښوونکو لپاره برابر شي. چې ددې موضوع له پوهېدو پرته ښایي هغه مغشوش شي،

او په دې باب توضیحات له ښوونکي سره مرسته کوي ، چې ماشوم ته د دِرس ښی لارې چارې برابرې کړي. لکه چی مخکې بیان شول ، داسې توضیحات ښايي ښوونکې ته لارښوونه وکړي ، چې خپل تدریس پلان کړي. پر دې موضوع پوهېدنه له هغه څخه د معلومات زېرمه جوړوي اود نوښت ځواک په کې وده کوي او پر ځان باوري کېږي . توضیحات ښايي ښوونکي ته لارښوونه وکړي چې د موضوع په هکله اوهمدارنګه دهغو کارونو په باب چې د ښوونکي پر وړاندې پراته دي،خپل معلومات او پوهه زیاته کړي. د افغانستان په شان هېواد کې ، چې د زیاتو معلوماتو درلودونکي په کې کم دي او همدارنګه مراد هم نه شته ، ډېر وخت به وغواړي چې ښوونکی له مرستې پرته پر هغو معلوماتو پوه شي چې په غور سره سنجول شوې دي.

٤ - د ټاکل شویو بنسټیزو موضوع ګانو لپاره د هدفونو لیکل

د هدفونو لیکل، ښوونکي ته توان ور ببښي چې د هرې موضوع / فرعي موضوع لپاره هدف په ګوته کړي . او پر دې ځان پوه او باوري کړي چې په درس کې تکرار نه شته .او یوه موضوع دوه کرته نه ده لیکل شوی.

د هدفونو روښانه کول د درسي پلان په جوړولو اوهمدارنګه د ارزونې په مرحله کې مرسته کوي. که چېرې هدفونه روښانه وي نود موادو جوړول اود وظیفو ټاکنه پلانېدای شي. که چېرې هدفونه په موضوعګانو ولاړوي، ښايي لاسته راشي. د هدفونو په رڼا کې محلي اړتیا وو او وزېرمو ته باید پاملرنه وشي. دا ډېره مهمه خبره ده ځکه هغه هدفونه چې د موضوع له مخې تیار شوې وي ښايي زده کوونکو ته نوي معلومات، مهارتونه او په احساس کې تعادل لاسته راوړي . وروستی موضوع دافغانستان په باب ډېره مهمه ده ، ځکه چې خلکو د نورو په برخه کې د حیواناتو اونباتاتو په شمول پاملرنه او زړه سوی له لاسه ورکړی دی.

۷- د ښوونکو د دندو تحلیل

دا برخه ښوونکي ته ځواک ورښي چې د تدریس د دندې په اړه د خپلو مسئولیتونو په باب روښانه دریځ غوره کړي. دا نه یوازې درسي پلان رانغاړي ، بلکې همدارنګه د موادو د نظم او ترتیب په ساحه کې د کار پلان، ګروپي کار، بهرونې فعالیتونو څېړنه ، نوښتګر پروګرامونه او داسې نور پروګرامونه احتوا کوي. د ښوونکي دنده دا ده، هغه هدفونه چې د موضوع / فرعي موضوع له پاره جوړ شوې دي وګوري چې لاسته راغلې دي او که نه ؟ دغه موضوع به د دریو اړو ساحو برخې چې پاس تاکل شوې وې راونغاړي. پر دې سربېره ، زغم او همکاري باید په کې ځای پر ځای شي او ښوونکی باید ددې موضوعګانو د لاسته راوړلو لپاره اسانتیاوې برابرې کړي. دا د افغانستان د خلکو له پاره حیاتي ارزښت لري. د ښوونکو دنده داده چې زده کوونکو ته څرګنده لارښوونه وکړي چې څه شی تولګي / ساحې ته راوړي ، هر زده کوونکی باید کوم کارونه سرته ورسوي، کومکي مواد باید وټاکل شي. هغه کسان چې د معلوماتو د زېرمې په توګه ورڅخه کاراخیستل کېږي باید وټاکل شي. له همکارانو / ګاونډیانو څخه باید مرسته لاسته راشي، ځای باید وټاکل شي او هدفونه باید له دندې سره سر ورکړل شي. د ښوونکي د دندو هدف دادی چې له مناسب میتود څخه کار واخلي، چې د ماشوم شخصیت وده وکړي. نوموړی باید د احساساتو په تعادل ، د سولې په کلتور او د خپل چاپېریال په پېژندلو کې له زده کوونکوسره مرسته وکړي.

۸- د زده کوونکو دندې په ګوته کول :

پر موضوع ولاړه کړنلاره د زده کوونکو د دندو وده اسانوي. دنده بیا په ډېرې آسانۍ د فرعي موضوع/عنوانونو د بنسټ له مخې زده کوونکو ته توان ورښي چې د پرمختګ بېلابېلې سویې

[illegible]

[illegible]

[illegible] – ٦

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

د ارزونې هدف باید دا وي چې زده کوونکی یا ماشوم د موضوع له بلې مرحلې / سویې سره ونښلوي ، چې غواړي ویې څېړي. دا به ارزښتناکه فیډبیک وي او د پروګرام په پای کې ارزیابي چې د استعدادونو د معلوموللو لپاره کارول کېږي ، ښوونکي ته اجازه ورکوي چې بلې موضوع ته داخل شي او زده کوونکو ته یې تدریس کړي.

ارزونه باید د معالجوي عمل په شان د کمزوري زده کوونکي لپاره په بېلابېلو برخو کې په کار واچول شي.

په افغانستان کې دا ډېره ضروري ده ، ځکه چې په افغانستان کې د معلوماتونو د نویو کېدو نورې زېرمې نه شته ، په داسې حال کې چې په نورو هېوادونو کې د شخصي او خصوصي ښووني او روزنې له لارې خپلې نیمګړتیاوې پوره کوي. ځینې ښوونکي ښایي د ماشومانو بېلابېل استعدادونه حس کړي ، چې ځینې یې هغه کډوال دي چې بېرته وطن ته را ستانه شوي دي. څرنګه چې دوی په هغو هېوادونو کې چې هلته یې پناه اخیستې وه ښه شرایط درلودل ، نو ځکه د هغوی د معلوماتو سویه لوړه ده. د لاسته راوړنې اندازه او هغه ستراتیژي چې باید ومنل شي ، د ارزونې د مناسب طرزالعمل له مخې په ګوته کېدای شي.

لنډیز

د تدریس / زده کړې په باب پر موضوع ولاړه کړنلاره یوه منطقي بنه لري. ،دا کړنلاره ښوونکي ته وخت ورکوي چې خپله مفکوره په ژوره توګه ډلبندي کړي . دغه کار به ښوونکی پردې بریالی کړي چې عناصر وپېژني او د هغه څه په باب روښانه او څرګند معلومات برابر کړي ، چې غواړي ماشوم ته یې ولېږدوي. کله چې د هغه فکر د موضوع په باب روښانه شو ، په دې صورت کې ماشوم له هغه چا څخه ښه ګټه اخیستلای شي ، چې هغه ورته شکونه له منځه وړي. ښوونکی کولای شي په غور

لومړی فصل

ځانګړې قضیه ؟

په نړۍ کې د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو لپاره، د ښوونکو ښوونه او روزنه ارزښتناکه او غټه پانګه ګڼل کېږي. د تجربه لرونکو مسلکي کسانو نشتوالی د تدریس او زده کړې درجه ټیټوي او په پای کې دا ډول تدریس او زده کړه ماشوم ستړې کوي. نا مسلکي ښوونکي دې توان نه لري چې خپل تدریس په داسې اغېزناک ډول تنظیم کړي چې ماشوم د ورتیا د لاسته راوړلو لپاره وهڅوي او لوړ ټولګي ته لاړ شي. کله چې داهدف لاسته رانه شي په ماشوم کې د ښوونځي د پرېښودلو میلان پیدا کېږي، څکه چې ماشوم په ښوونځي کې تر پاتې کېدو څخه لږ څه لاسته راوړي او یا هېڅ شی لاسته نه راوړي. دا ډول بهیر د ښوونې او روزنې لګښت زیاتوي او هغه زیرمې چې د بنسټ له مخې کمې دي، له لاسه ورکوي. د غه موضوع دودې په حال کې هېوادونو پر مالیه باندې د روند بار ګڼل کېږي. تر دې زیاته مهمه خبره دانساني زېرمودقوې له لاسه ورکول دي، چې له رامولو پرته پاتې کېږي. خلک دژوندانه د سویې له پایلو څخه چې د دې حالت په پای کې په وروسته کلونو کې منعکس کېږي، ځورېږي او پښېماني ښيي. په ټولګي کې د تدریس او زده کړې د پروسی او د ښوونکو ښوونه او روزنه باید د مهمو ملي مسئلو له ډلې څخه وګڼل شي. د غه موضوع دودې په حال کې هېوادونو په هکله زیاته رښتینې ګڼل کېږي، په تېره بیا هغه هېوادونه چې په شخړو او په هېواد کې د ننه د قدرت د تر لاسته کولو له مبارزې سره مخ دي.

په دا ډول ټولنو کې، په وده کې د ښوونې او روزنې نقش د نورو ستونزو تر منځ له پامه غورځېږي او

اوځیر تیا توضیحات برابر کړي او ماشوم ورڅخه ګټه واخلي.

سربېره پر دې، د استعداد له مخې هغه وړتیا، چې زده کوونکي يې لاسته راوړي، باید په روښانه ډول او په مناسبه توګه تعریف شي. نو دا کار د ښوونکي دنده آسانوي او هغه کولای شي ماشوم ته د نوموړو معلوماتو له مخې د زده کړې / مهارتونو ټاکلې اندازه برابره کړي. د موضوع کړنلاره له عنعنوي کړنلارې او طرز العمل څخه توپیر لري، ځکه چې وروستۍ پر درسي کتابونو متکي ده او هغه بله طریقه مواد تقویه کوي. دا په واقعیت کې هغه مواد دي، چې اوس په افغانستان کې نه شته. نو له همدې امله که چېرې ښوونکي ته په مناسب ډول د موضوع د کړنلارې له مخې لارښوونه وشي، کېدی شي چې ښوونکي د نیمګړتیاو و مخه ونیسي. که چېرې له دې طریقې څخه کار واخلي نو دا به د مدیر دردونه هم لږ څه کم کړي، ځکه د هغه څه لپاره لاس اوږدول چې په نږدې راتلونکي کې د افغانانو لپاره لاسته راتلای نه شي، سم نه برېښي.

دلته ځینې فورمې جوړې شوې دي، چې ښوونکی کولای شي د موضوع د تدریس په اړه د مهارتونو پوهه وارزوي.

لومړی فورمه

د موضوع په باب د مهارتونو ارزونه

پر مفهوم پوهېدنه	د پوهېدو کچه		
	لوړه	منځنۍ	ټیټه
دموضوع تعریف			
دموضوع ګانو تحلیل			
موضوعګانو مثالونه وړاندې کول، یا مثالونه نه وړاندې کول.			
دمهمو ځانګړتیاوو په ګوته کول			
د مثالونو ښودل			

له موضوع څخه دمفهوم اخیستل

د زده کوونکو د پوهې معلومول

پر موضوع د پوهېدو ازمویل

دویمه فورمه

په مېکرو تیچینګ کې دموضوع دمفهوم اخیستلو مشاهده

د ښوونکي سلوک		د تدریس کچه
لوړه	منځنی	ټیټه

(د ښوونکي د سلوک غبر اړخونه ولیکئ)

دریمه فورمه

د موضوع تحلیل

د موضوع نوم

د موضوع تعریف

د مهمو ځانګړتیاوو لست

د نامهمو ځانګړتیاوو لست

د پاسنیو موضوعګانو لپاره مثالونه غوره کړئ

د پاسنیو موضوعګاتو له پاره مثالونه مه غوره کوئ

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

مواد و له لست څخه حذفېږي ـ زيات شيان له طبيعي چاپېريال څخه لکه شګې ، پاڼې ، ګلان ، امساء ختيه ، کربړ، وياليږ، ونې ، الوتونکي ، حشرې ، پتنګان ، طبيعي منظرې، لکه آسمان او داسې نور، دانسان په لاس جوړ شوي جوړښتونه لکه هتيې ،ګراژونه ، زړې ټانکي، وراني شوې عرادې ، پاتې شوني ، د سبو پتيې ، بڼونه ، کرنېزې ځمکې ،څاروي اوداسې نور د زده کړې اوتدريس مهم مواد ګڼل کېږي ـ په دې اړه د موادو د پېژندلومهارت مهم ګام ګڼل کېږي ـ هغه څه چې نه شته ، هغه د ښوونکي توان دی چې هغه مواد وپېژني ، چې په چاپېريال کې دموضوع په اړه زيات موندل کېږي ـ نوليدل کېږي چې د اړتياوو له مخې دموادو برابرول مهم کار دی ـ همدارنګه دمحلي موادو په ګوته کول هم ډير حياتي ارزښت لري ـ وروستۍ موضوع د داسې هېواد لکه افغانستان لپاره زيات ارزښت لري ځکه چې هلته باندیني شيان ، نه يوازې نه موندل کېږي، بلکې بيه يې هم لوړه ده او اخيستل يې د ښوونکو / زده کوونکو له توان څخه پورته دي ـ سر بېره پردې له نومړو طبيعي موادو سره ماشومان ډېره مينه لري او زده کړه بايد د ماشوم لپاره تر سره شي، چې پرموضوع ښه پوه شي ـ نو له همدې امله دافغانستان د ښوونځيو لپاره د موادو د جوړولو په روزنيزو پروګرامونو کې بايد د ښوونکو روزونکي د ښوونکو د موادو د جوړولو دمهارتونو په باب ډېر ه پاملرنه وکړي ـ

د تدريس / زده کړې په هکله د موضوعګانو په کړنلاره کې د موادو جوړول / په ګوته کول لومړی ګام دی ـ په دی وخت کې لومړی بايد موضوعګانې اوبنستيز واقعيتونه ، د هر مضمون / ټولګي له فرعي موضوع ګانو سره يو ځای چې مخکې مو ور څخه يادونه وکړه په ګوته شي اوبيا وروسته ، د هرې فرعي موضوع له پاره مواد جوړ شي ـ دا کار بايد په ډېر غور سره سرته ورسيږي چې له زياتو موادو څخه د ګټې اخيستنې مخه ونيول شي ـ ښايي همدغه موضوع د زده کړې پر بهير منفي اغيزه وکړي ـ ښايي ماشوم / زده کوونکی له موادو سره ډېره مينه پيدا کړي اوونه شي کړای چې هغوته له موضوع سره يا له هغه څه سره چې درس ورکول کېږي ، ربط ورکړي ـ

ښوونکی بايد زده کوونکو ته مواد وښيي ، خو پر هغو بايد ډېر تمرکز و نه کړي ـ له ټولګي څخه بهرد درس لپاره د چاپېريال د ټاکلو په باب ښه طريقه داده چې لومړی ښوونکی محل ووينې ، تر څو

[illegible]

خلک چې دوی ته بېلا بېل خدمتونه سرته رسوي وڅېړي. ښوونکي باید نوموړي خلک لومړی وګوري چې د ښوونځي په شاوخواکې استوګن دي . نوموړي خلک باید مخکې تر مخکې پر دې پوه شي چې د کتنې هدف څه شی دی او له دوی څخه څه هیله کېږي . زده کوونکو ته هم باید په دې هکله لنډ معلومات ورکړي ، چې د درس د هدف په اړه ، په څه شي پسې وګرځي. زده کوونکي باید پر ګروپونو وویشل شي او هرګروپ ته بېلا بېل مسئولیتونه اودندې وسپارل شي . هغه مواد چې دوی یې له ځانه سره وړي ،باید په څرګنده توګه ورته بیان او توضیح شي. که چېرې اړتیا پېښه شي، د مدیر په اجازه بل ښوونکی دې هم ورسره مرسته وکړي. ټول پلان باید مدیرته د لارښوونې او موافقې له پاره وړاندې شي. کله چې زده کوونکي له ساحې څخه راوګرځېدل ، ښوونکی د زده کوونکو له ګروپونو څخه غواړي چې د هغه څه په باره کې راپور ولیکي او په ټولګي کې یې وړاندې کړي چې په ساحه کې یې لیدلي دي. دغه کړنلاره زیاتې ګټې لري ، چې په دې کې زده کوونکي د مرستې اوهمکارۍ، زغم، مشر تابه ، پر ځان باور او داسې نورو پر اهمیت پوهېږي او پر دې سربېره ماشومان د موضوع په مانا هم ښه پوهېږي.

شپږم فصل

ځواکمنوونکي پروګرامونه

سربېره پر پورتنيو ځانګړوپروګرامونو ، چې پر تمرين او عملي کار متمرکز وو او په مستقيم ډول د تدريس /زده کړې له کيفيت سره اړه لري . داسې بربښي چې د ورکشاپ / روزنېزو پروګرامونو په هکله نوره زياته لاربښوونه او منجمنټ به د ښوونکو د روزنيزو پروګرامونو اغېزې نورې هم زياتې کړي . په دې اړه لاندېني اړخونه ددې لپاره ور زيات شوي دي چې د ښوونکو د روزنې پروګرام بډای کړي . نوموړي پروګرامونه په لاندې ډول دي :

الف : د تنظيمولو مهارتونه ،

ب : د پروګرامونو پلانول .

ج : نوښتګرې کړنلارې ،

د : له لويانو سره د کار کولو موډلونه او پرنسيپونه .

الف : د تنظيمولو مهارتونه

ځرنګه چې د افغانستان د ښوونکو روزونکي په روزنه او د ورکشاپ په تنظيم کې لږه تجربه لري ، نو ځکه دلته د ورکشاپ د تنظيم مهارتونه / ميتودونه معرفي شوي دي . د افغانستان شرايط د زياترو هېوادونو له شرايطو سره توپير لري . دا د تفاهم په سيستم ،قبيلوي /نژادي توپيرونو ، سياسي شخړو ، د ترانسپورټ او بنسټيزو لوژستيکي آسانتياوو په نشتوالي او د کلتوري مسلکي ودې په وروسته والي پورې اړه لري . په دې ډول حالتونو کې د ورکشاپ تنظيم او روزنيزو پروګرامونو په کار اچول ډېرې ستونزې لري ، ځکه چې د هغو له پاره په زړه پورې شرايط نه موندل کېږي . پر دې سربېره د هوا ډېر

تودوالی او سوړوالی طبیعي ستونزې ګڼل کېږي ـ کله چې فعالیتونه تنظیمو ، نو باید نوموړي شرایط په پام کې ونیول شي ، ځکه چې هغه ښایي فعالیت ور وکړي اویا یې له خنډ سره مخامخ کړي او په ټپه یې ودروي ـ که چېرې تجربه په پام کې ونیسو ، لیکوال یو ورکشاپ په مرکزي لوړو سیمو یانې په یکاولنګ کې دایر کړ ـ هلته دا وموندل شول چې د ښوونکو هغه روزونکي چې په دې ورکشاپ کې یې برخه درلوده ، له دوه سیمو څخه په ترتیب سره ٦٠ او ١٠٠ کیلو متره په واټن پلې راتلل ـ له دریو څخه ترڅلورو ورځو پورې یې په برکې نیولې ،چې په سیمینار کې د ګډون له پاره د روزنې مرکز ته راشي ـ ،په ورکشاپ کې د کار وخت یوازې په سهار پورې محدود و ـ ځکه چې د ښوونکو روزونکو دې توان نه درلوده ،چې له دې څخه زیات کار وکړي ـ دا ډول موضوعګانې باید د سمینار په جوړولو کې په پام کې ونیول شي ـ هڅه کېدله چې په لږ وخت کې زیاتې موضوعګانې تدریس شي ، خو دا له هیلو سره سمون نه خوري او ښایي د هدف له مخې نتیجه لاسته را نه وړي او ګټور هم تمام نه شي ـ

ب : د پروګرامونو پلانول :

د ښوونکو روزونکو ته باید لارښوونه وشي ، چې پروګرام څرنګه پلان شي ـ په پلان کې د وخت عامل او د زېرمو لاسته راتلل په پام کې نیول کېږي ـ د هر حرص باید ونه شي ښایي له حرص څخه کاراخیستل پروګرام له ستونزو سره مخ کړي او پروګرام ناکام شي ـ د مهال وېش جوړول ، د ښوونې او روزنې له محلي مقام سره اړیکي ، د ټولنې د ملاتړ غوښتنه هغه اړخونه دي چې د پروګرام برخوالو پاملرنه باید ورته راواړول شي او د ښوونکو روزونکو ته باید په دې هکله لنډ معلومات ورکړل شي ، چې له محلي موادو څخه د ګټې اخیستنې په باب لازم مهارتونه لاسته راوړي ـ

هغه لړۍ چې په ورکشاپ / روزنیزو پروګرامونو او د راتلونکي پلان په باب سر ته رسېږي ، باید د ماستر ترینر او د ښوونکو د روزونکو پر فعالیت هم ټینګار وشي ـ ښایي نوموړي فعالیتونه د پروګرام په پیل او د پروګرام په پای کې ډېر زیات توپیر ومومي ـ په واقعیت کې ماستر ترینر باید د پروګرام په پیل

[illegible]

MT	MT	MT/TT	TT/MT	TT/MT	MT	TT/MT
	[illegible]	[illegible]		[illegible]		
[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]	[illegible]
٨	٦	٥	٣	٤	٤	١

[illegible]

[illegible]

[illegible]

ستونزې په پام کې نيول کېږي. په دې برخه کې بايد زيات حريص نه شو او په ډېر باور او احتياط پروګرام پرمخ بوځو.

ج : نوښتګرې کړنلارې

ښوونه او روزنه په افغانستان کې له دوولسيزو څخه د زياتې مودې راهيسې پېچلې شوې او له پامه غورځېدلې ده چې دقيقه کړنلاره غواړي. دې ته اړتيا ده چې زيات زده کوونکي په ښوونځيو کې شامل کړو، نو د تدريس لپاره نوي ميتودونه، د درسي کومکي موادو او د بنسټيزو اړتياوو نشتوالى هغه عوامل دي چې ابتکاري کړنلارې غواړي. د ډېرمو په نشتوالي کې له دې ويرونکي حالت سره مقابله، ابتکاري کړنلارې پر لاره اچول غواړي. د ښوونکو د روزونکو پاملرنه د غوتش ځايونو او هغه د ندو ته راواړول شوه چې د هغوى پر وړاندې پرتې دي.

د : له لويانو سره د کار کولو ميتودونه او پرنسيپونه

څرنګه چې ښوونکي لويان دي، نو د ښوونکو د روزونکو پام د يخواته راواړول شو چې ښوونکي لويان دي او ماشومان نه دي نو د لويانو په شان چلند غواړي. نو د ښو نتيجو لپاره د ښوونکو همکاري، مشوره، د هغوى د مفکورو منل ډېر زيات ارزښت لري. دا په ګوته شوې ده چې د روزنې په وخت کې له ښوونکو سره بايد د هغوى اړيکې ډېر دوستانه وي. چې بيا ښوونکي په ښوونځي کې د ماشومانو په تدريس کې له ورته ميتود څخه ګټه واخلي.

پــايـلـې

په افغانستان کې د تدريس / زده کړې مسئله ډېره پېچلې ده، دا ډول پېچلتياوې د نړۍ په نورو سيمو

په پای کې دښوونې او روزنې دپروګرام کیفیت زیات تاوان مومي. له ښوونځیو څخه د ماشومانو خارجېدل، په ښوونځي کې د شمولیت کمښت په ناسمه لاره دښوونې او روزنې بیول، په ارزیابي کې خلا پیداکیدل او داسې نور دورځني ژوند کړنلاره ګڼل کیږي. که چېرې دابهیر زیات دوام وکړي، نورې ستونزې څرګندېږي. ددې په پای کې داسې کلتور وده کوي چې ټولنه له زده کړې سره مخالفت وکړي، څکه چې په ولس /ټولنه کې دداسې یو شخص مثال نه موندل کیږي چې هغه له ښوونې او روزنې څخه ګټه اخیستې وي. دا ډول بهیر په دیکتاتوري حکومتونو کې ټولنه د فساد په لورې بیايي. پر انساني حقوقو تېرې تر سره کیږي او په ملکي ساحه او ټولنه کې تعصب او بې نظمي منځته راځي. د دې ټولو یو ځايي اغېزې دا دي چې د ټولنې وده او پر مختیا د روې یا یې لې تر لږه شاته غورځوي.

۱ - دښوونې او روزنې وده

په عمومي ډول دښوونې او روزنې پروګرامونه نړیوال نورمونه او کړنلارې لري، خو دا باید له محلي اړتیا وو سره سمون وخوري. که چېرې پروګرام له شرایطو سره سمون ونه خوري او یا د هېواد د اړتیاوو په رڼا کې جوړ نشي نو د هېواد دودې بهیر له خنډ سره مخ کوي. نو ویلای شو چې دا ډول پروګرامونه د هېواد په درد نه خوري.

د ښوونځي دوره / کلونه، دارزونې سیستمونه، دښوونکو دښوونې او روزنې پروګرامونه، سیکالوژیکي تیوري، څېنې هغه ساحې دي چې باید د هېواد د اړتیا وو په رڼا کې پر لاره واچول شي. هغه څه چې په بل ځای کې یې وده او پرمختګ کړې وي، ښايي دلته بې ربطه ښکاره شي او دهغې پر وړاندې انتقاد وشي. په دې صورت کې دښوونې او روزنې سیستمونه له انتقاد سره مخ کیږي او د تل لپاره دټول هېواد د ستونزو پېره پرې اچول کیږي. دښوونکو ښوونه او روزنه چې د هېواد پر پرمختیا کې د هرم په قاعده کې واقع ده، ددې انتقاد له ضربې سره مخ کیږي او تاوان مومي.

دریم جدول

د پروګرام مثال

فعالیت	ددوام موده	وخت /نېټه	ځوک	میتودونه	داړتیا وړمواد
۱-له پروګرام څخه مخکې ازموینه/ سریزه	۱/ دوه ورځې	نه ده ټاکل شوې	MT	په فورمه/ بحث	مخکینی ازموینه
۲-موضوعګانې	۱-۲ ورځې		MT	بحث	قرطاسیه
۳-هدفونه	۲ ورځې		TT/MT	بحث	توره یا سپینه تخته
٤-فرعي موضوعګانې	دری ورځې		TT/MT	بحث ګروپي کار	د لیکلومواد
۵-د فرعي موضوعګانو هدفونه	۱-۲ ورځې		TT/MT	د پاس په شان	د لیکلو مواد
٦-دموادو دجوړلو په اړه فعالیتونه	٦ ورځې		TT/MT	د پاس په شان ګروپي کار	د پاس په شان
۷-د موادود جوړولو په اړه فعالیتونه	۵ ورځې		TT/MT	لارښوونه بحث ګروپي کار	د پاس په شان
۸-په فورمو کارکول	۸ ورځې		TT/MT	د پاس په شان په انفرادي ډول	هغه مواد چې په ساحه کې د کار له پاره په کار دي
۹-دمونډل شویو موادو تحلیل	۲ ورځې		TT/MT	د پاس په شان	داړتیا وړ مواد
۱۰-ارزونه/ وروستی ازموینه	یوه ورځ		TT/MT	ګروپي/ انفرادي	وروستی ټسټ

کې ډېرې کمې موندل کېږي . په دې ډول چاپېريال کې عنعنوي ميتودونه په سختۍ سره د ښوونې او روزنې په پراختيا اغېزه کولای شي . ډېر ابتکاري او عملي بڼې بايد وموندل شي او دافغانستان د زده کړې له کلتور او عنعنې سره سمون ورکړل شي. دغه کړنلاره په هغه ټولنه کې چې ځانساتي سابقه لري او په عنعنه کې ښکېل وي، ارزښتناک نقش لوبولای شي . په دې ډول ټولنو کې د بهرنيو عناصرو پر وړاندې ډېر حساسيت ليدل کېږي. که چېرې د پروګرامونو په عملي کولو کې محطاط نه شو ، ښايي چې پروګرام له خنډونو سره مخامخ کړي. دهمدې شرايطو په پام کې نيولو سره پورتني مواد جوړ شوي او وړاندې شوې دي. د افغانستان په شان په ټولنو کې د ښوونکي نقش ډېر مهم دي ،ځکه چې هغه يوازېنی سړی دی چې ښايي په ټول کلي کې يې له ښوونې او روزنې څخه ګټه اخيستې وي. د هغه ظرفيت بايد تقويه شي او اړونده مهارتونه يې بايد وده وکړي .ښوونکی بايد ماشوم وپېژني او همدارنګه وکولای شي چې تر فشار لاندې چاپېرېال کې زده کړه تنظيم کړي. هغه معلومات چې دلته وړاندې شوي دي ، د هغو غټو مسئلو په باب چې ښوونکي ور سره په عملي جريان کې په کړکېچنو ټولنو کې لاس ګريوان دي ، اساسي کرښې جوړوي.

PROPERTY OF ARIC Established 1990

Annex 1

References

1	Grassroots Reconstruction of Education in Afghanistan	UNESCO Islamabad	1995
2	Management of primary schools under stress	UNESCO/GTZ Islamabad	1995
3	Hand book on multi-grade teaching	UNESCO/ SAB Islamabad	1996
4	Work books on mathematics and language grades 4 and 5	UNESCO/ SAB Islamabad	1997
5	Hand book for teachers	UNESCO/ SAB Islamabad	1998
6	Initiatives in curriculum design and development	UNESCO / AG BASED	1997
7	Contextualising teaching and learning in rural primary schools : using agricultural experience Vol I and II	Peter Taylor / Abigail Mullah University Reading, London,	1997
8	Rural pedagogy: a grassroots approach to rural development	S.B.Ekanayake, Prospects, Vol. XX UNESCO, Paris	1990
9	Children at war	Everett M. Ressler et al UNICEF, New York	1993
10	Learning to think or learning to memorize? A constructivist reformulation of old dilemma	Marcel Crahay, Prospects, No.97 UNESCO, Belgium,	1996

PROPERTY ARIC

* technical assistance to documents 1-6 was provided by the author

داموضوع په خپله دښوونکي د هغه حیاتي نقش اومسؤلیت ښکارندوی دی چې ټولنې وربا ندې ایښې دی. نوله همدې امله دښوونکي ښوونه او روزنه، په هېوادکې دښوونې او روزنې دودې لپاره، که چېرې په مناسب ډول یې لارښوونه وشي ارزښتناکه پانگه گڼل کېږي. ښایي نوموړي هغه تش ځای ډک کړي چې د زېرمو له نشتوالي څخه سرچینه اخلي. داموضوع په ځانگړې توگه د افغانستان په هکله رښتینې گڼل کېږي.

که چېرې دښوونکو په روزنه کې بهرنې موډلونه او تیوری تعقیب شي، دابه دښوونې او روزنې په سیستم کې گډوډي رامنځته کړي. هغه تیوري چې په نوروځایونوکې رامنځته شوې دي، پر هغو تجربو ولاړې دي چې په لویدېزه نړۍ کې په سیکالوژۍ او ښوونه او روزنه کې سرته رسېدلي دي او د ودې په حال کې هېوادونوکې د ښوونې او روزنې بنسټ جوړوي. دبنسټیزو څېړنو لپاره دزېرمو نشتوالی په دې هېوادونوکی د زده کړې داسې ډېرې کمې تیورۍ اوتگلارې رامنځته کوي چې پر محلي قضیو رڼا واچوي. نو له همدې امله ښوونکي او زده کوونکي ځکه ټولگي کې له ستونزو سره مخامخوي چې ښوونکی په کې دتدریس یوطرفه سیستم او زده کوونکی په کې دزده کړې خپله کړنلاره پرمخ بیایي. په دې صورت کې دزده کوونکي اوښوونکي ترمنځه دتفاهم لانجې د ژوندانه بهیر گڼل کېږي. ښوونکي ډېر کم یا هېڅکله د ماشوم پر اړوندو ستونزو، نه پوهېږي. دزده کوونکي لپاره بوازېنۍ لاره داسې سېستم پرېښودل گڼل کېږي. دا ډول بې ربطه تدرېس ددې باعث گرځي چې زده کوونکي له تدرېس څخه ناراضي شي او په ښوونځي کې پاتې کېدل وخت تېرول وگڼي. هغه ماشومان، چې دلومړنی ښوونځي دوره یې بشپړه کړې وي، نسبت هغه ته چې هېڅکله ښوونځي ته نه وي تللی، د ټولنې لږ مبتکر غړی گڼل کېږي. نوموړی د ښوونځي دبېسوادانو ډله جوړوي. په زیاترو حالتونوکې مدیر اوښوونکي دا ډول مسئلې نه منعکسوي، ځکه چې د ټل لپاره ښوونځي له زده کوونکو څخه ډک وي، او دزده کوونکو کمښت نه لیدل کېږي. څرنگه چې دوی په منجمنت کې داوسنې حالت دوام په پام کې نیسي او هېڅکله نه غواړي نوښت پر لاره واچوي، نو هغه مسئلې چې زده کړې په کیفیت کې د ماشوم د فردي اړتیا وو په پېژندلو پورې اړه لري، دویمه درجه ارزښت پیداکوي

اویاله پامه غورځېږي. پرهغو مسئلو باندې دښوونکونه تمرکز: چې له ټولګي څخه بهردماشوم د زده کړې لړی اغېزمنه کوي، د هغو ټولنو په هکله چې په ښځو کې ډوب دي، ربښتیني ګڼل کېږي. دا موضوع ددې ښوونکو بله وژونکي ځانګړتیا ګڼل کېږي.

- دافغانستان د وضعې په رڼا کې:

افغانستان ببشمیره ټولنیزې او سیاسي لانجې زغمي ، او ډیوه پېچلي تشخیص شوي ناروغ په توګه به په همدې ډول دوام ولري. په وروستیو دوو لسیزو کې پرته له دې چې د مسئلې لپاره دحل وروستی لاره وموندل شي، د یوې ستونزې حل نورې ستونزې پیدا کړې دي او مسئلې بې نورې هم پېچلې کړې دي. هبواد له ډېر وستونزو سره مخامخ دی او هېڅوک نه پرهېږي یاباور نه لري چې له کومه ځایه څخه څه ډول پیل وکړي چې له دې مسئلو څخه وژغورل شي. ښوونه او روزنه یوه بنسټیزه او غټه ساحه ده، چې له ټولو محرومیتونو څخه ځوربېږي. دښوونې او روزنې زیاتره جوړښتونه ړنګ شوي دي او یا فعالیت یې تاوان موندلې دی. په تېرو دوولسېزو کې د ښوونې او روزنې مسلکي غړونه وده او پیاوړتیا د سیستم څرګندې نېمګړتیاوې په ګوته کوي. دغه مواد ، بنسټیزو جوړښتونو، درسي کتابونو، او ښوونې او روزنې ته د نجونو په لارې پیدا کولو، سرببره اړتیاوې ګڼل کېږي. دا ډېرې تودې مسئلې ګڼل کېږي، چې ځینې یې ډېرې پانګې ته اړتیا لري،چې ان د نړیوالې ټولنې له زېرمو او توان څخه لوړدي. نو له همدې امله دا ډېره مهمه ده چې دلومړیتوب حق له مخې اړتیاوې طبقه بندي کړو او داسې ستراتېژي غوره کړو چې د نورو نیمګړتیاوو ځای ډک کړي. دې پالیسی ته تر هغې دوام ورکړو چې کافي زېرمې لاسته راشي. هغه اړتیاوې چې په نسبي ډول لږه پانګه غواړي او له زده کوونکو سره مرسته کوي چې په بنسټېز ومهارتونو کې تخصص لاسته راوړي او زده کوونکي وهڅوي، چې داوږدې مودې لپاره په رسمي سیستم کې پاتې شي. دې ډول فعالیتونو ته باید

دلومړيتوب حق ورکړل شي. دزده کوونکي لپاره په ټولګي کې زده کړه بايد ددوستۍ بنه غوره کړي.
دابه څرنګه لاسته راشي؟ په دې کې دښوونکو روزنه غټ نقش لوبولای شي. دابنسټيزه ساحه ده چې په نسبي ډول لږ لګښت، کولای شي د ښوونکي ظرفيت سمبال کړي، چې زده کوونکوته دمهارت له مخې لارښوونه وکړي او په ټولګي کې دزده کړې مثبته فضا رامنځته کړي. د زده کوونکو دا ډول لارښوونه ښايي ښه نتيجه ورکړي. دښوونکو لپاره دمناسب پروګرام طرح کول هغه مسئلو ته پاملرنه ده چې د ماشوم د چاپېريال د پېژندلو او دهغې په رڼا کې يې له زده کړې سره لري. دغه موضوع بايد پر دې لورې لومړی ګام وګڼل شي.
په دې اړه يو شمېر پوښتنې راپورته کېږي. هغه مهم او بنسټيز اړخونه چې د ښوونکو دښوونې او روزنې د پروګرام په وده کې په افغانستان کې ترکتنې لاندې نيول کېږي کوم دي؟ هغه نيمګړتياوې کومې دي چې دځو کلونو راپدېخوا د افغانستان د ښوونې او روزنې په سيستم کې په تېره بيا د ښوونکو په ښوونه او روزنه کې رامنځته شوې دي؟ دښوونکو دښوونې او روزنې په طرح کې، پر کوموځانګړو مهارتونو باندې بايد ټينګار وشي؟ دښوونکو لپاره څه ډول ښوونه او روزنه طرح شي چې نيمګړتياوې ډکې کړي اولګښتونه وسپموي؟
افغانان له اوږدې مودې راهيسې له ليږدونې، په هېواد کې د ننه له بې ځايه کيدنې، د فزيکي او ټولنيزو جوړښتونو د ړنګولو، دزيرمواو پرسونل له لاسه ورکولو، د ښوونځيو له تړلو او د حکومت ددندو دنه ترسره کولو له امله ډېر زيات ځوريږي. د خلکو پر ژوندانه باندې ددې لانجو سيکالوژيکي اغېزې زياتې دي. ددوست له لاسه ورکول، دبنسټيزو اړتياوو نه پوره کېدل، په بېلابېلو بڼو تر هېواد دننه لانجې او باندني فشارونه هره ورځ په بېلا بېلو بڼو څرګندېږي چې دخلکو له پاره يې ژوند پېچلی کړی دی. بحران او شخړې هغه دوامداره عوامل دي چې افغاني ټولنه کې لېدل کېږي.
دښوونکو دښوونې او روزنې دودې او پرمختګ دغه پروګرامونه هغه بنسټيز عوامل دي چې د روزنيز پروګرام په اړه دځانګړې مسئلې په توګه بايد په پام کې ونيول شي، چې د روزنې پروګرام د افغانستان د شرايطو په رڼا کې سر ته ورسيږي. په هر صورت، زيات بايد حريص نه شو، او هغه څه چې لاسته راتلای

شي دهغو په هکله باید محطاط واوسو، ځکه چې دښوونځيو د ستونزو په باره کې باید وویل شي ،چې ښوونځي یو له بل څخه لېرې پراته دي، بنسټیز مواد نه لري اونورې اوږمستیکي ستونزې هم لري. مربوطوالی، پر مسئلو ولاړ یا د قضیو په رڼا کې دښوونې او روزنې داړتیاوو، اصطلاحات باید دافغانستان د شرایطو په رڼا کې په ښه توګه درک شي، ځکه چې په عام ډول دا د شرایطو پرته استعمالیږي. ددې کلمو کارول، به مصنوعي بڼه غوره کړي. مربوطوالی هغه عمل ته اشاره کوي، چې هغه عمل دیوه حالت دښه درک کولو او پېژندنې له پاره مناسب وي. پر مسئلو ولاړ یا د قضیې په رڼا کې، دیوه حالت دعناصرو دقیقې پېژندنې ته ویل کېږي. د ښوونې او روزنې اړتیاوې داړتیاوړ هغو موادو او شرایطو ته ویل کېږي چې د تدریس / زده کړې اغېزه زیاته کړي.

- منل شوې کړنلارې

په افغانستان کې زیاترو ښوونکو تر خدمت مخکې یا د خدمت پر وخت له روزنیز پروګرام څخه ګټه نه ده اخیستې. نژدې هر ښوونکی له نویو میتودو لوژیکې نوښتونو څخه بې برخې دی. ان هغه څوک چې روزل شوي هم دي، ډېر مخکې روزل شوي دي. څرنګه چې وروسته یې د خدمت پر وخت له روزنې څخه ګټه نه ده اخیستې او همدارنګه سرچینې (منابع) یې په واک کې نه وې. نو ځکه یې معلومات زاړه شوي دي. دا خبره باید په یاد ولرو چې که چېرې روزل شوي هم وای، هغه میتودونه چې ددوی لپاره کارېږي، ښایي د افغانستان له ځانګړو شرایطو سره سمون ونه خوري، نو له همدې امله ددوی د معلومات او مهارتونو نوي کولو ته اړتیا ده چې نوموړي معلومات او مهارتونه دافغانستان له شرایطو سره سمون وخوري. دا خبره دښوونکو او ښوونکو دښوونې او روزنې په باب ربښتونې ګڼل کېږي. د افغانستان د پېداګوژۍ انیستیټیو نه د روزنې د کیفیت د لوړولو، لاربښوونې او دنویو مفکورو دلاسته راوړلو لپاره بنسټیز وسایل نه لري. همدا اوس له خپل ظرفیت څخه په ټیټه درجه فعالیت کوي. دا به یوڅه وخت ونیسي، چې نوموړي انستیټونه دافغانستان دښوونکو ټولنې لپاره مسلکي پرسونل چمتو کړي. ملګروملتونو او نا دولتي مؤسسو ته لازمه ده چې د ښوونکو لپاره د ښوونې او روزنې پروګرام پر غاړه واخلي ښایي د ملګرو ملتونو او نا دولتي

لومړنۍ خبرې :

په افغانستان کې ښوونه او روزنه له نړدې دوولسيزو راپه ديخوا له ياده وتلې ده ـ د ښوونې او روزنې له ياده وتلو دودې بيشماره لارې تراغيزو لاندې را وستې دي ـ د ژوندانه ټيټه سويه ، د تجربه کار پرسونل نشتوالي ، پرنورو باندې زياتيدونکې ډډه لګول او مهاجرت ددغو مسئلو څومثالونه دي ، چې په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د نشتوالي له امله رامنځته شوي دي ـ

که په افغانستان کې وضع په همدې ډول دوام وکړي ، نو افغانان به له هغه ځخه په راتلونکو څو لسيزوکې ونه ژغورل شي چې همدا اوس ورسره لاس و ګريوان دي ـ بيوزليتوب به نه يوازې دوام وکړي ، بلکې دومره به زيات شي چې مخنيوى به يې له توان ځخه ووځي ـ

د ښوونکو روزنه يو له بنسټيزو عاملينو (inputs) ځخه ګڼل کيږي ، چې کولای شي د تدريس کيفيت او سويې په لوړو لوکې مرسته وکړي ـ په نسبي ډول د ښوونکو روزنه لږ لګښت غواړي او ښوونځي ته د زده کوونکو په جلبولو او هلته په پاتې کيدوکې ډيره اغيزمنه ده ـ د افغانستان په مرکزي برخه کې ښوونه او روزنه له بل هرځای ځخه ډيره له ياده وتلې او وروسته پاتې ده ، خو په ولس کې د ماشومانو (نجونو او هلکانو دواړو) لپاره د ښوونې او روزنې دبرابرولو هيلې ډيرې پياوړې دي ـ هغه مهاجرين چې له ايران ځخه بيرته خپل هيواد افغانستان ته راستنيږی د خپلو ماشومانو لپاره يې د ښوونې او روزنې هيلې نورې هم پياوړې کړې دي ـ ځکه چې په کوربه هيوادو کې د هغوی د ماشومانو د ښوونې او روزنې لپاره زياتې آسانتياوې وې ـ دا زمونږ نظردی چې د ښوونې او روزنې اسانتياوې بايد سمون و مومي ، ځکه هغه مهاجرين چې وطن ته راستانه شوي دي ، بيرته بيا مهاجرنه شي ـ

د ښوونې او روزنې د اهميت په رڼاکې UNOPS پريکړه وکړه چې د ښوونکو د ښوونې او روزنې پروګرام ، د افغانستان په لوړې مرکزي سيمې (يکاولنګ) کې پلان کړي ـ دورس ، پنجاب او يکاولنګ د ښوونکو روزونکو ، د يکاولنګ په دوه مياشتني ورکشاپ کې برخه واخيستله ـ ددې روزنيز ورکشاپ په پای کې د ښوونکو روزونکي په خپلو ولسواليو کې ټول ښوونکي روزي ـ UNOPS ددې ورکشاپ په دايرولو کی د ښوونې او روزنې له رياست سره مرسته وکړه ـ (UNOPS) ددې پروګرام برياليتوب يومهم

نوښت وګانه او د کار د پرمختګ له مخې نورو پرمختیاووته سترګې په لار و .

د ښوونکو د ښوونې او روزنې د دغه ورکشاپ مرستندوی شریکباني UNESCO ، UNHCR او دافغانستان لپاره د سویډن کمیټه (SCA) ، له افغانستان سره د بلجیم د پیوستون مؤسسه (SAB) او د یکاولنګ د ښوونې او روزنې څانګه، وو . UNHCR د ډاکټر س . ب . ایکانایکې د خدمتونو په واسطه چې د UNHCR د لومړنیو زده کړو سلاکاردی، د پروګرام لپاره تخنیکي مرستې او دوو نادولتي مؤسسو ماسټر ټرینران، برابر کړي وو، چې د همدې هدف لپاره په ځانګړي ډول روزل شوي وو .

په دې اړه زه له UNHCR څخه چې تخنیکي مرستې یې برابرې کړې دي او همدارنګه د افغانستان لپاره د سویډن د کمیټې (SCA) مشر تخنیکي سلاکار ښاغلی روژه ګل او له افغانستان سره د بلجیم د پیوستون د کمیټې مشر امیر محمد احمدي څخه چې د پروګرام لپاره یې ماسټر ټرینران برابر کړي وو، ډېره مننه کوم . دافغانستان لپاره (UNOPS) د سیمه ییزې ناظمې ښغلې پیپا براډفورډ او له ښغلې ډیانا پورټر څخه چې پروګرام یې په ډېره بریالۍ توګه سمبال کړې و د زړه له کومې مننه کوم .

میخاییل مرسیرو

د افغانستان د UNOPS

د پروګرام منیجر، اسلام آباد

۱۹۹۸ کال، د جولای ۲۲ نېټه .

کارونه پیل کړي. په دې اړه دهغو تخنیکي مرستو ستاینه کوم چې ډاکتر ایکانایکې د UNHCR دلومړنیو زده کړو تخنیکي سلاکار برابرې کړې دي، نوموړي د افغانانو د اړتیاوو مفکوره راپورته کړې ده او دښوونکو د روزونکو د روزنې په شمول یې د روزنې لپاره ارزښتناک کتاب لیکلې دی.

احمد فراه

دهیئت مشر

دافغانستان لپاره د UNHCR

دفتر - اسلام آباد

د ۱۹۹۸ کال ، دجولای ۲۲ نېټه

مخکینی خبرې

دغه کتاب چې نوم یې « دقضیې په رڼاکې د ښوونکو ښوونه او روزنه » دی. په وخت لیکنه ده چې د افغانستان پر ښوونې او روزنې د راغلو غمیزو او قضیو پرورانده په وړانې ځینې پوښتنې ځوابوي. په افغانستان کې له ډېرو ستونزو څخه یوه مهمه ستونزه د مناسبې ښوونې او روزنې نشتوالی دی چې د هېواد د راتلونکي ودې لپاره ډېره مهمه مسئله ګڼل کېږي.

ټول پر دې پوهېږي چې هیڅ هیواد دخپلې ښوونې او روزنې له سویې څخه اوچت او زیات پرمختګ نه دی کړی. که چېرې ښوونه او روزنه د دومره اوږدې مودې لپاره له یاده ووځي او چاره یې ونه لټول شي، دهیواد ملي وده به زیانمنه او وروسته پاتې شي.

بله مهمه مسئله په کډوالو پورې اړه لري، چې د ګاونډیو هیوادونو لپاره یې ډېرې ستونزې پېښې کړې دي. په دوولسیزو کې ګاونډي هېوادونه د افغاني کډوالو کور بانه وو. کډوالو په کوربنو هېوادونو کې د نورو اسانتیاوو ترڅنګ دښوونې او روزنې له اسانتیاوو څخه هم ګټه اخیستله. که چېرې دغه کډوال خپل هېواد ته راستانه شي نو تر افغانستان دننه به دښې ښوونې او روزنې لپاره ډېرې زیاتې غوښتنې رامنځته شي. دنړیوالو ټولنو دنده دا ده، چې د افغانانو لپاره داسې اسانتیاوې برابرې کړي، چې کډوال خپل وطن ته راستانه شي. دغه ډول پالیسي به په راتلونکي کې پرګاونډیو هېوادونو د کډوالو دستونزو فشارکم کړي او یا به یې له منځه یوسي.

له همدې امله UNHCR د UNOPS د نوښت ستاینه کوي، چې دښوونکو دښوونې او روزنې لپاره یې پرځای او ښه سنجول شوی پروګرام په لوړو مرکزي سیمو کې پیل کړ. زه باور لرم چې دغه هڅې به، لکه چې په دې کتاب کې یې یادونه شوې، په افغانستان کې دښوونکو دښوونې او روزنې دیوه موډل دجوړولو لپاره بنسټ شي. UNHCR او نورې هغه نا دولتي او نړیوالې مؤسسې چې د ښوونې او روزنې په برخه کې کار کوي، له دې هڅو څخه ګټه واخلي، ځکه چې یوازې دمواد و په برابرولو سره دښوونې او روزنې کچه نه لوړېږي.

د UNHCR او UNOPS ترمنځ به همکاري لا هله نورده هم ټینګه شي، چې په نورو ساحوکې ورته

د قضيې په رڼاکې ښوونه او روزنه

په افغانستان کې د ښوونکو او روزونکو لپاره

لارښود

UNOPS

UNHCR

۲۰۰۱ سنه ء

رسولی لپاره دنړیوال مذهبی کنفرانس (WCRP-Japan)

جاپان بسپنه د (UNHCR) په مرسته

Cover photo - Teacher Trainers in Yakwalang, Central Highlands, Afghanistan
Photo by late Bakr Hussain, UNESCO

د قضيې په رڼاکې ښوونه او روزنه

په افغانستان کې د ښوونکو او روزونکو لپاره

لارښود

PROPERTY ACKU
PROPERTY OF ARIC

2001

UNOPS

UNHCR

لیکوال :

ډاکټر س . ب . ایکانایکې

پښتو کوونکی :

پوهنوال لطف الله صافی

کتونکي :

ډاکټر نور محمد نافذ

پوهنیار محمد اسماعیل یون

ښاغلي زکریا ملاتړ

نیو لیک

عنوان	مخ
لومړنی خبرې	الف
مخکینی خبرې	ج
سریزه	۱
لومړی فصل : ځانګړې قضیه	٤
۱ : دښوونې اوروزنې وده	٥
- دافغانستان دوضعې په رڼاکې	۷
- منل شوې کړنلارې	۹
۲ : بنسټیزې موضوعګانې	۱۱
دویم فصل : دشخړې پر وخت دماشوم پیژندنه	۱۲
دریم فصل : د فشار پروخت دټولګې نظم او اداره	۲۳
- ترفشار لاندې منجمنټ لپاره دلیلونه	۲۳
۱ : دافغانستان لپاره ځانګړې کړنلارې	۲۸
الف : دپلې کولو کړنلارې	۲۸
ب : دټولګې ترتیب او تنظیم	۳۰
۲ : عمومې عوامل	۳۱
- دټولګې دګډوډۍ مخنیوونکې تګلارې	۳۲
- دناوړه سلوک مخنیوی	۳۳
- هغه میتودونه چې دناوړه سلوک پر وړاندې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي	۳٤
- پرځان باور او ترڅنګ اغېزلاندې دزده کوونکو راوستل .	۳٥
څلورم فصل : دموضوع له مخې دتدریس اوزده کړې کړنلاره	۳۷

– ولې د موضوع له مخې ؟	۳۷
– د پوهې لاسته راوړل	٤٠
– د ښوونکي لپاره د لارښوونې مرحلې	٤٠
پنځم فصل : د موضوع پر بنسټ د مواد و جوړول	٥٢
– مواد څه ته ویل کېږي ؟	٥٢
شپږم فصل : ځواکمنوونکي پروګرامونه	٥٦
الف : د تنظیمولو مهارتونه	٥٦
ب : د پروګرامونو پلانول	٥٧
ج : نوښتګرې کړنلارې	٥٩
د : له لویانو سره د کار کولو میتودونه او پرنسیپونه	٥٩
پایلې	٥٩
References	٦٢